# همبستګۍ غږ

د افغانستان د همبستګۍ ګوند خپرونه

۸
پښتو
تله ۱۳۹۵



دګوند موخې

● خپلواک، آزاد، دموکراتیک او یو موټی افغانستان.
● د سیکولاریزم او دیموکراسۍ پر ستنو ولاړ ملي یووالی.
● د ښځو او نارینه او د هیواد ټولو وګړو مساوي حقوق.
● د هر ډول بنسټ پالنې او بهرنۍ لاسوهنې پر وړاندې مبارزه.
● د امریکایي او ناټو نیواکګرو قوتونو سم لاسي وتنه.

همبستګي

د امتیاز خاوند: د افغانستان د همبستګۍ ګوند

مسئول مدیر: سیدمحمود همرزم

ګرځنده: ۰۰۹۳-۷۰۰-۲۳۱۵۹۰

د جواز شمیره: ۸۷


## پدې ګڼه کې:


تاریخ او خلک د راکټیار او د ده د ویجاړیو شریکان هیڅکله هم نه بخښي! .......... ۱

داعش د ماشومانو د مغزو وینځلو لپاره د تنظیمی لارو چارو څخه ګټه اخلي........ ۴

باربارا لی، باتوره ښځهچې د جریان په خلاف یې لامبو وکړه............................ ۸

پر افغانستان د امریکا یرغل کلیزی غندلو په موخه د پوسترونو ځړول................ ۱۲

د ظاهر شاه په اړوند د عبدالله او د هغه همګاندو دوه مخې‌توب ......................... ۱۴

هیلری‌کلنتن د ښځو ضداو ځناورخویه عربی هیوادونو ملاتړې............................ ۱۷

کله چې د کرزی ژغورونکی د هغه د امریکایی ساتونکو له خوا ووژل شو.............. ۲۱

د ګجګین جګړه، د روسي یرغلګرو پر وړاندې د استاذ حبیب‌الله او د هغه د ملګرو په زړورتیا سره ودریدنه .......... ۲۴

په یوګوسلاویا کې د امریکا او ناټو جنایتونه ............................................ ۲۹

پر قندوز د امریکا هوایی برید په ترځ کې د ولسي وګړو ټول‌وژنه.......................... ۳۴

د فلیپین خلک د امریکا د پوځي هډو د رانغړلو غوښتونکې دي............................ ۳۸

د امریکا د پنځو تنو ژوندیو ولسمشرانو خونړۍ کارنامې.................................. ۴۱

رُزا پارکس، میړانه ښځه چې د تور پوټکو د عدالت‌غوښتنی یوه بیلګه شوه .......... ۴۴

«حزب‌التحریر» د پروان پوهنتون د ناپوهې او سخت دریزي په لور راکاږی .......... ۴۷

میرزا فقیر احمد خان پنجشیری زموږ د تاریخ د ریښتینو مبارزانو څخه دی ........ ۵۱



اعلامیې

# تاریخ او خلک د راکټیار او د ده د ویجاړیو شریکان هیڅکله هم نه بخښي!



د امریکا نیواکګر دولت او لاسپوڅي یې هڅه کوي څو د ګلبدین خوسا شوی مړی د «سولې» د نوم لاندې یو ځل بیا زموږ د خلکو پر ټټي پوښتورګو سپور کړي. که څه هم ډیر شمیر ګلبدینان د دغه شړیدلي دولت برخه ده، خو نیواکګر او کورني پلورل شوي لاسپوڅي سره یوځای په پام کې لري، څو له دغه مړي څخه په ګټې اخیستنې سره، دده کرکجن اسلامي ګوند چې عملا د ویجاړۍ په لور روان دی، بیا ورغوی او د خپلو جنایتکارو کړنو لپاره یې په خپل چوپړ کې ونیسي.

د ع او غ دولت د ډیرو امکاناتو لکه نغدې پیسو، بنارګوټو، دولتي څوکیو او نورو امتیازاتو د ورکوونې ترڅنګ جنایتکار ګلبدین ته یې قضایي خوندیتوب هم وربخښلی څو نوم یی د ملګرو ملتونو له تور نوملړ څخه هم لرې شي. له هغه دولت څخه چې د راکټیار لارویانو او هم فکرو ورونو څخه رامنځته شوی وي، نشو کولای چې له دې پرته بله تمه ولرو. څو کاله وړاندې خلقي، پرچمي او تنظیمي جنایتکارانو په ولسی‌جرګه کې د خپلې بخښنې لاسوند تصویب کړ او د خپل اندوخر د میلیونونو قربانیانو وینه یې یو او بل ته وبخښله، نو ځکه اوس هم کومه ستونزه نه ګوري چې یو بل خاین د دوی په کتار کې ورګډ شي. ګلبدین او دده بدنومی ګوند ته قضایي خوندیتوب ورکول

یو لوی خیانت دی؛ د دوی په اړه د محکمې او پریکړې نیولو حق یوازې کړیدلی خلک لري او بس. نیواکګر او ملګری ملتونه کولای شي چې ناوړې ځیرې او داړونکي وژونکی د هغوی د چوپړانو په توګه د خپل تور نوملړ څخه لري کړي، خو هیڅ ځواک نشي کولای چې ګلبدین، قطب الدین هلال، غیرت بهیر، قدیر کریاب، هارون زرغون، کریم امین او داسې نور د اسلامي انسان خوړونکي ګوند خاینې ځیرې د تاریخ له خاطرو څخه لرې کړي. هغه ورځ رارسیدونکې ده چې ګلبدین د خپلو تنظیمي او طالبي ورونو سره یوځای د خپلو بنګله دیشي هم‌توکو په څیر د ولس په محکمه کې محکوم او سزا ورکړل شي.

په افغانستان کې د بنسټپالو او انسان وژونکو ګوندونو کرکجن تاریخ دا په ډاګه کوي چې نیواکګر هیوادونه په ځانګړي توګه امریکا او برتانیا د خپلو عربي او پاکستاني او ایراني شریکانو سره یوځای لاسپوڅي عناصر د کرغیړنو ټپونو په څیر ساتي، خو د اړتیا پرمهال د حکمونو د پلي کولو او د هغوی ګټې خوندي ساتلو لپاره ماموریت ترسره کړي. نن ورځ هم نیواکګر دولتونه غواړي چې ګلبدین د «سولې پروسې سره د یوځای کیدو» تر نوم لاندې برجسته کړي او زموږ په خلکو یې راوتپي. خو پرته له ګومانه په هماغه کچه چې د امریکا «جګړه» له خپل دغه نازولي او لاسپوڅي سره درواغجنه ده په هماغه کچه د «سولې» دعوه په بې‌شرمۍ سره د خلکو په سترګو کې د خاورو شیندل دي، چې د وینې تویونې پرته نوره څه پایله به ونه لري. پرته له ګومانه زموږ کړیدلی ولس د دغه بویناک دولت څخه چې له ملي خاینینو څخه رامنځته شوی کومه تمه نه لري، هغه مهال چې سیاف، خلیلي، دوستم، عطا، عبدالله او د کابل نور جلادان خوندیتوب او واک لري، د دوی ورور او شریک راکټیار دا خپل حق ګڼي چې له دغې سیوري بې برخې نشي.

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» چې تل د خپلو دردیدونکو خلکو آواز دی، ټول رنځور ولس او د هیواد په پرمختللی ځواکونو دا غږ کوي، ترڅو چې د ملي خاینینو لکه د ګلبدین او دده هم‌آندو پروړاندې پا نه څیرو، افغانستان به له بندیتوب، وینې تویونې او ویرې او ډار څخه خلاصون ونه مومي. زموږ چوپتیا د راکټیار په څیر داړونکي لا ډیر راپاروي او زموږ راتلونکي نسلونه به هم د زور زیاتي او بندی‌توب چوغ پر اوږو وړي.

**د افغانستان د همبستګۍ ګوند**

۱۳۹۵ کال د تلې لومړۍ نیټه


جلاد کابل را هرگز نمی‌بخشیم!
حزب همبستگی افغانستان
HAMBASTAGI.ORG
اگر امریکا و غلامانش راکتیار و شرکای جرمش را ببخشند،
تاریخ و مردم ما هرگز نمی‌بخشند!
HAMBASTAGI.ORG


We Don't Forgive The Killer of Kabul!
جلاد کابل را هرگز نمی‌بخشیم!
HAMBASTAGI.ORG


که چیرې امریکا او لاسپوخي یې راکتیار او د ده دوړانګارو شریکان وبخښي، تاریخ او زموږ وګړي یې هیڅ کله هم نه بخښي!
زموږ د خلکو پر اوږو د ګلبدین د اورونکي بانډه بارول، د امریکا یو بل خیانت دی!
معامله با مزدوران آی‌اس‌آی صلح نه که سیه‌روزی بیشتر می‌آورد!
HAMBASTAGI.ORG




لیکونکی: احمر

# داعش د ماشومانو د مغزو وینځلو لپاره د تنظیمي لارو چارو څخه ګټه اخلي




د ۱۳۹۵ کال د چنګابښ په ۳ نیټه، بي‌بي‌سي فارسي راپور خپور کړ چې په هغه کې ویل شوي دي داعش د کوچنیانو د زده‌کړو لپاره د تاوتریخوالي او ځناورتوب څخه ګټه پورته کوي. د دغه راپور پر بنسټ داعش د موبایل پر مخ د زده‌کړنیزو پروګرامونو په لاره اچولو، د ماشومانو د جلبولو تکل لري چې په هغوي کې په اګاهانه ډول د ټانګ او توغندیو او نور پوځي وسایلو انځورونه څخه د الفبا زده‌کولو لپاره ګټه پورته کیږي.

هغه ټکي چې لیکونکې په آګاهانه یا غیر آګاهانه توګه له هغې څخه سترګې پټې کړې دي، د انډولو پخوانیو پیښو یادونه ده چې د تل په څیر د بي‌بي‌سي د نورو راپورونو په پاي کې لیدل کیږي. داعشیان که چیري نن ورځ د پرمختللې ټکنالوژۍ څخه په ګټې اخیستلو سره بې‌ګناه ماشومان بې‌رحمۍ ته هڅوي، د افغانستان د پرون ورځې داعشیانو د امریکا په مرسته په بیلابیلو لارو چاروهمدغه موخه خارلې ده.

په دغه برخه کې د «واشنګتن پسټ» ورځپاڼې د ۱۳۸۲ کال د اوري

میاشتی په ۳ نیټه یو راپور یي «له امریکا څخه د جهاد الفبا سره» تر سرلیک لاندې خپور کړ چې په هغه کې راغلی دي:




د تاوتریخوالي او ځناورتوب څخه په ګټه د ماشومانو لپاره د داعش زده‌ګړنیزه کړنلاره

«د ساړه جنګ په لړې کې، متحده ایالاتو میلیونونه ډالر د افغان زده‌کونکو د ښوونځیو درسي کتابونو د چمتو کولو لپاره ولګول چې د تاوتریخوالي او اسلامي نظامي انځورونو څخه ډک ول. دغه د شوروي یرغل پر وړاندې د مقاومت د سر راپورته کولو لپاره د پټو هڅو څخه وو.

دغه لومړني کتابونه چې د جهاد له خبرو څخه ډک دي او د ټوپک، مردکي، سرتیرو او ماین انځورونه په هغوي کې انځور شوي، له هغې مودې څخه راپدې خوا د افغانستان د درسي نظام اصلي نصاب په چوپړ کې ځای موندلی دی. تر دې چې طالبانو د امریکا د خپارو شو کتابونو څخه ګټه پورته کړه، که څه هم یې د انسانو انځورونه ورڅخه پاک کړل تر څو یې د بنسټپالۍ سخت‌دریزو اصولو سره سم عمل کړی وي.»

که څه هم په وروستیو پاګرافونو کې لیکونکې د یوایس‌اید لاسوندونو په نقلولو سره دا مني چې دغه بنسټ یواځې سیکولارستی کړنلارو ملاتړ کوي خو په محکمه کې د هغې په وړاندې شکایت سربیره، د دغه کتابونو د ترتیب او خپرولو پیسې یي په غاړه درلودلې:

«دغه درسي کتابونه د افغانستان په دوو عمده ژبو، دری او پښتو، د ۱۹۸۰ کال په لومړیو لسیزو د یوایس‌اید په مالي مرسته د "افغانستان د مطالعاتو مرکز" له لاری د امریکا د نبراسکا پوهنتون

خپاره کړل. د ۱۹۸۴ کال څخه تر ۱۹۹۴، نوموړي بنسټ ۵۱ میلیونه امریکایی ډالر د افغانستان پر ښوونیزې کړنلارې د یاد پوهنتون له خوا، لګولی دی.

د شوروي یرغل په وخت کې، په افغانستان کې سیمیزو پوځي رهبرانو داخل ته د کتابونو په قاچاق کې د متحد ایالاتو سره ملګرتیا کوله. هغوي غوښتنه درلوده چې لومړنیو درسي کتابونو کې باید د روسي ضد لیکني شتون ولري. د یواس‌اید رسمي چارواکې وايي چې ماشومانو ته ور زده کیدل چې د ټانګ، راکټ او ماین د انځورونو په مرسته شمیرل زده کړي. نوموړي چارواکې دا مني چې په هغه وخت کې د متحده ایالاتو په ګټه وه چې د بهرنیو نیواکګرو پر وړاندي کرکې ته لمنه ووهي.»


Unit one
لومړی فصل
دیو څخه تر لسو پورې د شکلونو شمیرل
بناً علی ښوونکي دې د هرې مجموعې شکلونه لزده کوونکو څخه پوښتنه وکړي
چه څه نوم لري او د څه لپاره استعمالیږي او څو دانې دي .
۵۰

داعشیان که چیري نن ورځ د پرمختللی ټکنالوژی څخه په ګټې اخیستلو سره بې ګناه ماشومان بې‌رحمۍ ته هڅوي، د افغانستان د پرون ورځې داعشیانو د امریکا په مرسته په بیلابیلو لارو چارو همدغه موخه ثارلی ده.

سربیره پردی، د الجزیره انګلیسی سایټ (۱۳۹۳ کال د تلې په ۱۶) په مرکه کې سربیره پردی، د الجزیره انګلیسی سایټ (۱۳۹۳ کال د تلې په ۱۶) د پروفیسر دانا برد «په افغانستان کې د جګړې او سولی لپاره ښونځي» د کتاب لیکونکي، سره ډیر جزییات یی دغه ډول بربنډ کړل:

«یوایس‌اید په پاکستان کې د کډوالو په کمپونو د هغه کتابونو ویشلو څخه چې د مجاهدینو ډلو له خوا د پاکستان آی‌اس‌آی او

سي‌آی‌ای په مرسته لیکل شوی وه ملاتړ کاوه.

پروفیسر برد وایي ...حال دا چې د کمونیستي دولت له راپرځیدو وروسته په افغانستان که د متحده ایالاتو کړنلاره پای ته ورسیده، خو د هغوی خپاره شوی کتابونه د لسګونو نورو کتابونو او د هغوی اصلاح شو ټوکونو لپاره تخم وګرځیده.

میرمن برد وکولای شو چې په پښتو ژبه د پخوانی کتابونو ځو ټوکه او په ۲۰۱۱ کال کی نوی چاپ شوی کتابونه د پیښور په بنار کې لاس ته راوړي. هغه وایي چې طالبان ماشومانو ته د همدغو کتابونو درس ورکولو سپاریښتنه کوي.

ددغه کتاب ډیری ۴۱ سلنه لوستونه د دین تر نامه لاندي د تاوتریخوالی ستاینه کوي. د پښتو په ګڼه کې د "ټ" یعنی "ټوپک" لپاره لیکل شوی دی: "تره مي ټوپک لری. هغه په ټوپک جهاد کوي."»

د داعش فکر او ځناورتوب په یوځل ښه نه ده موندلی او د هغوي په پخوانی روزنه کې ژوه ریښه لری. سي‌آی‌ای او ملاتړو یي د افغانستان روسی ضد جګړه کې د بنسټپالو ډلو په کارولو سره ښه تجربه تر لاسه کړی او نن ورځ په ظاهري بدلون د هماغه پخواني چوپړو سرتیرو څخه ګټه پورته کوي.



د سعودي عربستان د ماشومانو
په درسی کتابونو کې د ځناورتوب زده‌کړه

د افغانستان په ټولنه کې په تیرو دری لسیزو کې د تاوتریخوالي، د ښځو ضد فکر او سخت‌دریزی لوړوالې له دغه جهادی کتابونو سره چې د سي‌آی‌ای له لوری تمویل شوی مستقیمه اړیکه لری چې د هغي په ځاي د علمی ښوونیز او د انساني اصولو پر بنسټ سیستم په پلی کولو سره، کولای شو چې راتلونکې نسلونه په پرمختللو او مخکښو اصولو وروزو.



لیکونکی: نوید نابدل

# باربارا لی، باتوره ښځه چې د جریان په خلاف یې لامبو وکړه

په داسې حال کې چې د سپتامبر یوولسمې قربانیانو مړی تر اوسه د ویجاړ شوي ځای لاندي نه وو راویستل شوی، د نیویارک او پنتاګون پر برجونو د برید څخه یواځې دری ورځې وروسته، سپینې ماڼۍ چې له مخکې څخه پر هیوادنو باندی د تیری لپاره بشپړ چمتوالې درلود، یوه لایحه یې د رای لاس ته راوړلو لپاره کانګرس ته واستوله چې په هغې کې ولسمشر ته بې‌پایه او نامعلومه واکونه ورکول کیدل چې د هغو «هیوادنو، سازمانونو او وګړو پر وړاندی» چې په دغه پیښه کې په یو ډول سره لاس لری د نظامې ځواکونو څخه ګټه واخلې، او څرګنده وه چې لومړنې هیواد چې د برید لاندی ونیول شی افغانستان وو.



«د عمومی عقایدو پر خلاف د عقدی درلودلو څخه ویرجن مه اوسه، ځکه هر باور چې نن ورځ د منلو وړ ده، یو وخت د عمومو د عقیدی مخالف وو.»
برتراند راسل

د ۱۳۸۰ کال د وږی په ۲۳ نیټه (۲۰۰۱ د سپتامبر په ۱۴)، په داسې

شرایطو کې چې د امریکا ټولنه په ویر کې ولیدلې وه او هر قانون کیدلی شو په آسانۍ پر هغوی وتپل شي، دکانګرس ۴۲۰ غړو دغې لایحې ته، چې په AUMF یې شهرت موندلی، مثبته رای ورکړه، میرمن باربارا لی (Bar-bara Lee) د کالیفرنیا استازې د کانګرس یواځینې غړی وه چې د منفي رای په ورکولو یې خپل نوم په تاریخ کې ثبت کړ. هغې نه یوازی له هغه سر مخالفت وکړ بلکه د کانګرس په دننه کې یې د باتوری او ولولو ډکې وینا کې وویل «راځې له هغه جګړمار څخه چې کرکه لرو په هغه باندي بدل نه شو... تاوتریخوالې د تاوتریخوالی د ډیریدلو لامل کیږی.»

هغې په یوې لیکنه کې د خپل مخالفت لاملونه ویل دي:

> «دغه پریکړه‌لیک د ولسمشر لپاره د سپین چک په ډول دي... د ورته ځناوریزو بیړنیو بریدونو په لاره اچول لوی ګواښ دي چې د سړو، ښځو، او د ډیرو بی‌ګناه ماشومانو د وژل کیدلو لامل کیږی.» («سان‌فرانسیسکو کرونیکل» ورځپانه، ۲۰۰۱ کال د سپتامبر په ۲۳)

د هغې څخه وروسته، باربارا د سختو لفظی بریدونو لاندي ونیول شو او په مرګ وګواښیدله چې ناچاره شوه د وسلوالو ساتونکو په پناه کې ژوند وکړي. هغه یې «خاینه» او «کمونیسته» ونومولـه او د نوم‌لرونکو رسنیو لـه لـوری لکـه وال استریت ژونال» د «امریکایانو په ضد» کیدلو باندي تورنه شو. « «واشنګټن ټایمز» ورځپاڼې د امریکا د دښمنانو ملاتړکونکې وبلله.




د باربارالی څخه په دفاع یو پوسټر:
«باربارا لی زما لپاره خبری کوی.»

خو د ۱۵ کالو په تیریدلو، د باربارا لی د دریځونو ریښتینولی په ډاګه شوه او عملا د کانګرس «سپین چک» جورج بوش او باراک اوباما ته اجازه ورکړه چې ډیر هیوادونه په خاورو او وینی ککړ کړي او تر اوسه هم دغه لایحه د اجرا وړ ده. خو نن ورځ د امریکا ډیری خلک دغه حقیقت ته رسیدلی دي چې

تیری یوی نیمی لسیزی جګړی تیروتنه او د ترهګری د خپې د ډیریدلو او په نړۍ کې د بدمرغیو لامل شوی دي. د ګال‌اپ موسیسی د شمیرو پر بنسټ په ۲۰۰۱ کال کې د امریکا اوسیدونکو څخه یوازې ۹٪ د افغانستان جګړه یی «تیروتنه» بلله، خو په ۲۰۱۴ دغه شمیر ۴۹٪ ته ورسیده.

میرمن لی په ۲۰۱۳ کال کې له کانګرس څخه غوښتنه وکړه چې د هغو هیوادونو نوملړ خپور کړی چې د دغې لایحې پر بنسټ د برید لاندي نیول شوی دی. د لاسوند پر بنسټ چې کانګرس د ۲۰۱۳ کال د جولای په ۱۰ نیټه خپاره کړل، د بوش او اوباما دولتونو د نوموړی لایحې څخه په ګټه اخیستلو سره، افغانستان، فلپین، جورجیا، یمن، جیبوتی، کینیا، ایتوپیا، اریتریا، عراق او سومالیا یی د برید او یا لاس وهنو او لاس اچولو لاندی نیولی دی. یواځې د اوباما د ولسمشرۍ په لړی کې، اوه هیوادونه افغانستان، لیبیا، سومالیا، پاکستان، عراق، یمن اوسوریه د بې‌پیلوټه الوتکو د بمبارد لاندي نیول شوی دی خو ترهګرۍ نه یواځې له منځه نه ده تللي بلکه د هغې ډیر ځناوریز ډول د «داعش» تر نامه لاندي سر پورته کړې او د اروپا او امریکا ډیر امن ښارونه یی په ماتم کینولی.



باربارا لی د عراق جګړې پر وړاندي لاریون په لومړۍ لیکه کې

په داسې حال کې چې د سپتامبر یولسمې پیښه کی د دری زرو تنو په شاوخوا کی وژل شوی دي، خو د ۱۵ کالو جګړې او تیري او بمبارونو د میلیونو تنو بیګناه د عام‌وژنې لامل په هغه هیوادونو کې شوی چې د امریکا او ترهکرانو له خوا په ویجاړنځای باندی بدل شوي دي. تر دغه وخته دامریکا ۴۵۰۵ سرتیری په عراقکې او ۲۲۸۵ تنه افغانستانپه افغانستان کې وژل شوی دي او جنګې لګښتونه د امریکا مالیه ورکونکو لپاره لوړ شمیر پنځه تریلیون ډالرو ته رسیدلی دی، هغه شمیر چې په هغې کیدای شو چې نړۍ په ریښتینې جنت باندي بدله کړو.

باربارا لی له هغه تاریخ څخه وروسته په کراتو د کانګرس دغه جګړې ډیرونګې اجازه‌لیک د له منځه وړلو لپاره هڅه وکړه چې کومه پایله یی نه

لرلـه. د دي پـه خوا کې هغې د افغانسـتان، عراق او ليبيـا څخه د امريکايي ځواکونو د ويستلو لپاره راى ورکړى ده.

ديک دوربن، د کانګرس دموکرات استازى چې د مثبت راى ورکولو څخه پښيمانه وو، ډير وخت وروسته يياعتراف وکړ:

«زمـوږ هيـڅ يو تن، حتـى يو تن د هغوى څخـه چې راى يى ورکړى، وى نه شـو کولاى فکر وکړى چې مـوږ د امريکا تاريخ تر ټـول اوږدى جګړى ته راى ورکو.»(«ګاردين» ورځپاڼه، ۲۰۱۳ د مى په ۷)

خـو نوره د ټولو لپاره روښـانه ده چـې د امريکا واکمنه طبقـه په اګاهانه ډول جګړې او تيرى ته راى ورکړى ځکه چې د سـپتامبر يولسمې بريد يى د امريـکا د امپراتورى د پراختيا لپاره مناسـبه زمينـه ګڼله تر څو نور هيوادونه تالو ته ښـکته او لوټ يى کړى. خو د يوى نيمى لسـيزى په تيريدلو سـره دا روښـانه شـوه چې امريکا د ټولو لويو جنګې ماشـين او د خپلو لوړو ادعاګانو سـره د پام وړ کمزوريو څخه برښـمنده ده چې نه يوازي خپلو موخو ته نه ده رسيدلې بلکه د جګړې ضد غورځنګونو او پاڅونونو د څپې سره په هيواد کې دننـه مـخ ده چې د هرى ورځ په تيريدو سـره د هغى د نظامى او ديپلماتيک او ښارګـر رازونـه بربنډيري او د نړى په کچه يى ورتـه تاريخي بى‌عزتى ور په برخه کړى ده.

رسنيز يرغل | کارتونيست: Pavel Constantin






# پر افغانستان
# د امریکا یرغل کلیزې غندلو په موخه
# د پوسټرونو ځړول

۱۳۹۵ کال د تلې ۱۵مه (۲۰۱۶ کال د اکتوبر ۶مه): د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» یو شمیر ځوانان د ښار په ګڼو سیمو کې د شعارونو په ځړولو سره، پر افغانستان د امریکا او ناتو ۱۵مه کلیزه وغندله. دغو پوسټرونو کې چې د امریکایي نیواکګرو د جنایتونو انځورونه او شعارونه یې لرل، خلک یې د امریکا او د هغوی طالبي او غیر طالبي چوپړانو پر وړاندې مبارزې ته هڅول. یو شمیر انځورونو په پکتیا او جلال‌آباد کې د امریکا له وړندو بمباریو څخه پرده اوچتوله چې د لاسپوڅي دولت او رسنیو له لوري پټ ساتل شوي وو.

د همبستګۍ ګوند ریښتینې سوله د خلکو په ښېرازۍ او له هر ډول نیواک څخه په آزادۍ کې ویني او تل یې د امریکایي نیواکګرو ځواکونو او د هغوی چوپړانو شتون پر وړاندې آواز اوچت کړی او خلکو ته یې پوهاوی ورکړی دی. مونږ په دې باور یو چې د ځناورو طالبانو بې‌مخینه ځواکمندیل، د داعش سر پورته کول، له جلاد ګلبدین سره معامله، د ټولنې مافیایي کیدل او ترهګرۍ لوړوالی او جګړه او وژنې او د ولس بدمرغۍ دا ټول د امریکا او د هغې د ملاتړو شیطاني کړنلارې دي او تر هغې ورځې به دوام ومومي ترڅو د نیواکګرو جنګي هډې دلته شتون ولري. د یو بیروني جنګ‌بلونکي ځواک تر واکمنۍ لاندې، هیڅ ولس آزادۍ او نیکمرغۍ ته ندی رسیدلی او نه به ورسیږي.


استقلال و دموکراسی با راندن
شغالگران و مزدوران ۷ و ۸ ثوری آنان
معنی می‌یابد!
HAMBASTAGi.ORG


جنایات اشغالگران امریکایی
و مزدوران‌شان برخیزیم!
HAMBASTAGi.ORG


ارمغان امریکا: قتل و کشتار بی گناهان!
حزب همبستگی افغانستان
Solidarity Party of Afghanistan
www.hambastagi.org | +93 (0)700 23 13 90
fb.com/hambastagi | twitter.com/hambastagi
HAMBASTAGi.ORG



لیکونکی: نوید نابدل

# د ظاهر شاه په اړوند د عبدالله او د هغه همالدو دوه مخيتوب



څو ورځې وړاندې د ظاهر شاه د مړينې نهمه کليزه د «اجراييه رياست» له خوا څخه د عبدالله، ضيا مسعود، کرزی او نورو په شتون د هغه پر قبر باندې د گل په ايښودلو سره ولمانځل شوه. په دغه منځ کې هغه څه چې زما پام يې ځان ته راواړوه، د ظاهر شاه سره د عبدالله او د جمعيت گوند نورو مشرنو دوه مخيتوب دی. څرنگه چې په هره برخه کې د دوی خبرې او عمل ستر توپير لری، په دغه اړوند يې هم په خپلې پخوانۍ سختدريځې موضع باندې پښې ايښې دی. د «جهاد» په لړکې دوی او په ځانگړي توگه برهانالدين ربانی تل د ظاهر شاه څخه د «خاين»، «فاسد»، «د هيواد د ناورين لامل»، «سپو سره لوبی کونکې»، «شرابی» او...په توگه يادونه کړی يو وخت يې اعلان وکړ چې که چيری هغه هيواد ته د بيرته راتگ تکل لری، بايد د محاکمه کيدلو لپاره چمتو شي.

د ظاهر شاه په وړاندی د جمعیت ګوند او خپله ربانی دریځونو ځو بیلګې چې د دغه ګوند په پخوانیو خپرونو کې خپرې شوی دی:

ولي په یاد مو ده چې د یولسم د سپټامبر څخه وروسته هغه وخت چې ظاهر شاه په خندیدنی توګه د امریکا او د هغې ملاتړو له لوری د «ملت بابا» په څیر پر ولس وتپل شو، جهادی مشرانو یو بل پسی د هغه لاس ښکولولو لپاره کتار تړلی وو او کومه ورځ چې له نړۍ څخه لاړ هم، هماغو چې هغه ته یی «کافر» او «خاین» وایه، خپل ځانونه یي د هغه جنازې لومړی کتار ته رارسولي وو.


استقلالیت انقلاب

و وقتی هم زعیم و رهبر می تراشند تا افغانستان بعد از انقلاب را اداره کند، همین هدف رادنبال می کنند، آنجان که ظاهرشاه فاسد را در این اواخر بابوق و سرنا ازخوابگاه آرامش بدرنه کنان تا روی صفحهٔ جرائد و حنجرهٔ رادیوها آورند تا بحث زعیم محبوب!! ملتیکه از برکت!!

حکمروائی چهل ساله اش با این فاجعه روبروگشته، دوباره برگرداند، غافل از اینکه این مردی که ازهم احتمال وتمایل اعمال تروریست ویا تهدید تیلفونی‌شان طرف پیش‌ازهشت سال که ملت مسلمان افغانستان بدست مزدوران روس و از تشیمان خون آشامش درمیان سیلاب خونشنا می کرد برای محکوم ساختن تجاوز روسها کلمه ئیرا که اگرخواسته میشد اظهار کند لبهایش با البوم هم باز نمیشد و اکنون دل کدام شهری را درسینه اش پیوند کرده اند که چنین هوائی بسر و آرزوئی در دل پرورانیده است.



د ظاهر شاه په وړاندې د جمعیت ګوند او خپله ربانی دریځ

په خبرو او عمل کې توپیر، د اخوانی بنسټپالانو بنسټیزه ځانګیړنه ده چې موږ د هغې بي شمیره بیلګې د جمعیت ګوند، اسلامی ګوند، اتحاد اسلامی او ټولو مرتجع ګوندونو په ځان کې ګورو.

د یادونې وړ ده چې د ظاهر شاه د سلطنت څلویښت کلنه لړۍ که هر څه د تیرو څلور لسیزو کړکجنو دولتونو په پرتله، د یو شمیر خلکو له خوا د سرو زرو لړی ګڼل کیږی، خو د هغه او د هغه وینې څښونکو ترونو (هاشم‌خان، شاه‌ولی خان، شاه‌محمود خان) زورواکی واکمنۍ تور ټکې له ځانه سره لری چې زموږ د خلکو د اتلانو او ډیر شریفو آزادۍغوښتونکو په ربړولو او

وينو تويولو سره په تاريخ کې ليکل شوی ده. ظاهر شاه پوره څلويښت کاله زموږ ولس په تياره او تنګلاسۍ کې وساته خو ځانته او يارانو لپاره يې په عياشي او لوټلو باندې افسانوي ژوند وټاکه. زموږ د ملت نني ډيری کړاونه او بدمرغۍ په همدغه لړۍ کې ريښې لري ځکه چې ظاهر شاه د دوهمې نړيوالې جګړې څخه ورسته په نړيواله کچه د هوساينې او برابر شوي موقع څخه ګټه پورته نګړه او وی نه غوښتل د نورو ډيرو ولسونو په څير، افغانستان د پرمختګ او نيکمرغۍ په لور روان کړی. هغه برعکس د مشروطه غوښتنې او عدالتغوښتنې خوځښتونه په پوره ځناورتوب سره وټکول او زموږ د هيواد ډير سر لوړی شخصيتونه لکه سرور جويا، عبدالخالق، عبدالرحمن محمودی، برات علی تاج، مير غلام‌محمد غبار، فتح‌محمد خان ميرزاد، محمود، عظيم منشی‌زاده او نور يې په بندخونو کې وساتل او يا يې له منځه يوړل.

ظاهر شاه چې د روسانو پر وړاندې زموږ د خلکو جنګ او مقاومت څوارلس کالو په لړ کی مرګونی چپتيا غوره کړی وه، امريکا او ناټو نيواکګرو د هغه د ژوندانه په وروستيو ورځو کې زموږ دخلکو غولولو لپاره د يوې نانځکې په څير ترينه ګټه پورته کړه او څرنګه چې په دغه دوران کې يو شمير جنايتکاران په درواغجنو لقبونو ونازول شول، هغه ته هم د «ملت بابا» لقب وروبخښل شو، هغه لقب چې د ولس له ملنډو سره مخ شو.




هماغو چې هغه ته يی «کافر» او «خاين» وايه، خپل ځانونه يي د هغه جنازې لومړی کتار ته رارسولې وو.



لیکونکی: شکور

# هیلری‌کلنتن د ښځو ضد او څناورخویه عربی هیوادونو ملاتړې



په دغه ورځو کې د امریکا ولسمشری ټاکنو سیالیو ډېر ګرم بازار لری او هلیری‌کلنتن د «امریکا په تاریخ کې د لومړنۍ ښځینه ولسمشرې» تر نامه لاندی وکولای شو ډیر شمیر ناپوهه کسانو ته په دوکه ورکولو سره په نظرپوښتنو کې مخکې شي. په ورته وخت کی بورژوازی رسنیو د ملنډو ډکې غوغا په لاره اچولو سره له هغې څخه د دموکراتی خیری او د ښځو او لږه‌کیو د حقوقو ملاتړی په توګه یادونه کوی. خو دغه تبلیغاتی ډهل د هغې په ګټه چې هر څومره په زوره ووهل شي نشی کولای چې د هغې اړیکې او معامله د د کرغیړنو شیخانو او عربی دیکتاتورانو سره پټې وساتي.

د هیلری‌کلنتن ربښتنی ماهیت درک لپاره بسنه کوی چی د هغې د ملاتړ کونکو لیست ته نظر واچو چې څه ډول د ښځو ضد عناصر د څمکې پر مخ تر اوسه د ۱۰۰ میلیونه ډالرو څخه ډیری پیسی د هغې حساب ته ورتوی کړی دي تر څو د ښځو دحقوقو دغه اتله د ټاکنو ګټونکې شی او په ساز باندی یی

ونخیږی:

- عربستان سعودی: ۵۰ میلیونه ډالر څخه ډیر
- امارات متحده عربی: ۱۱.۵ میلیونه ډالر
- کویت: ۱۱ میلیونه ډالر
- قطر: ۵.۸ میلیونه ډالر
- سلطان عمان: ۵ میلیونه ډالر
- مراکش: ۵ میلیونه ډالر
- برونئی: ۵ میلیونه ډالر

د بهرنیو مالی مرستو ترلاسه کول د ولسمشری نوماند په واسطه د امریکا په قانون کې جرم بلل کیږی خو عربی هیوادونه ګواکې له دغه قانون څخه معاف دي. د امریکا مهمې رسانې د عربی سرچینو څخه په نقل څه موده وړاندې راپور ورکړ چې شاهزاده محمد بن سلیمان، د سعودی عربستان د دفاع وزارت ولیعهد ځای ناستې په ټوله لیوالتیا منلې ده چې دولت یې د هیلری ۲۰ سلنه انتخاباتی لګښت ورکوی، ۳۱ کلن محمد بن سلمان چې هغه د خپل پلار ملک سلمان د اصلي ځواک په توګه یادیږی تل د ډیرو لګښتونو او چړچو په خاطر د خبرونو سرټکی دي.




کلنتن په خپل کتاب کې د «ستونزمنی ټاکنې- د هلیری‌کلنتن یادونه» په نوم چې د امریکا په بهرنیو چارو وزارت کې د دندی پریښودلو څخه وروسته لیکلې، منلې دي چې د هغې اداري د داعش ترهګرې ډلې په بڼه وورکولو کې ونډه لرله.

البته هیلری‌کلنتن ته د عربو مرستې وړاندی کول بی‌قید او شرطه نه دي، د هغوي یې پر وړاندې غوښتنې لری چې هرو مرو به یې پلي کړی وی. د قطر او عربستان په سپاریښتنه، د امریکا د بهرنیو چارو په وزارت کې

هیلری‌کلنتن د خپلې کاري مودې په لړی کې قطر ته د پوځي وسلو لیږدولو امر ورکړ تر څو د «آزادې سوریې ځواکونو» په واک کې ولویږی. په سوریه کې د «رژیم بدلون» لپاره، سی‌آی‌ای د وسلوالو ډلو لکه «داعش»، «جبهه النصرات» او «احرارالشام» څخه د بشار اسد په وړاندي پوځي جبهه رامنځته کړې. هیلری د منځګړتوب او همدارنکه د دغو جبهاتو د سمبالولو او تمویل دنده په غاړه درلودله. د ۲۰۱۶ کال د سپتامبر په میاشت د اف‌بی‌آی په واسطه د کلنتن ۳۶۰۰۰ خپاره شوی ایمیلونو، دا څرګندوي چې هغې د دغو جبهاتو په سازمان‌ورکونه کې مهمه ونډه درلودله او شخصأ یی په سوریه، لیبی او عراق کی پوځیانو ته د امریکایی وسلو لیږدولو امر یی ورکړی دي. جولیان آسانژ د «نوی دموکراسی» سره په مرکه کې، (۲۰۱۶ کال د جولای په ۲۶)وویل:

«هلیری کلنتن د اوباما د ریاست جمهوری په لړی کې، په قطر باندی د امریکا د پوځي وسلو د پلورلو امر صادر کړی دي. کلنتن په همدغه ډول د لیبیا بلواګرو ته د امریکا پوځی وسلو د پلورلو امر صادر کړی تر څو د معمر قذافی رژیم له منځه یوسی او وروسته دغه وسلې سوریی ته ولیږدول شوی تر څو د بشاراسد دولت له منځه یوسي.»

کلنتن په خپل کتاب کې د «ستونزمنی ټاکنې- د هلیری‌کلنتن یادونه» په نوم چې د امریکا په بهرنیو چارو وزارت کې د دندی پریښودلو څخه وروسته لیکلې، منلې دي چې د هغې اداري د داعش ترهګرې ډلې په بڼه وورکولو کې ونډه لرله، هغه د داعش د رامنځته کول څرنګوالې دغه ډول بیانوي:

«موږ د عراق، سوریه او لیبیا په جګړه کې ګډون وکړ او ټول څیزونه ښه وو خو په یوځل په مصر کې د جون دریم انقلاب د اخوان‌المسلمین دولت په وړاندی پیل شو او ټول څیزونو په ۷۲ ساعتونو کې بدلون وکړ، موږ د اخوان‌المسلمین سره په مصر کې تړون کړی وو چې دولت اسلامی په سینا کې جوړ شی. پریکړه وشوه چې د سینا څخه ځنې برخې په حماس او د هغې نوری برخې اسرائیل ته پریښودل شي او حلایب او شلاتین په سوډان پوری وتړل شی او د مصر دولت د لیبی سره د السلوم په سمیه کې پولې پرانیزی... پریکړه وشوه چې موږ د ۲۰۱۳ کال د جنوری په پنځمه په یوی ناسته کې د خپلو اروپایی ملګرو سره اسلامی

دولت په رسمیت وپیژنو. ما ۱۱۲ هیوادونو ته سفر وکړ تر څو د اسلامی دولت په جوړښت کی د امریکا ونډه او له رامنځته کیدو وروسته د ځنیو ملګرو له لوری د هغې په رسمیت پیژندلو هوکړې په اړه، توضیح ورکړم. خو په ناڅاپي توګه ټول څیزونه زموږ د سترګو په وانډړي راوپرځیدل.... موږ د اخوان‌المسلمین له لاری څخه چې ګمان کیده په مصر کی اسلامي دولت منځ ته شی سیمه مو ویشله او وروسته له هغې څخه د خپلو اخوان‌المسلمین خارګرو له لوری د خلیج فارس ټرانګې عربی هیوادونو په لور تللو. په لومړیو کې کار له کویټ څخه پیل کیده او په ترتیب سره امارات، بحرین او عمان په لور تلو. د هغې په پای کې، عربی او لویدیځ عربی سیمو په بشپړه توګه بدلون کاو او موږ پر نفتی سرچینو او سیندونو پر لارو بشپړ واک تر لاسه کاوه.»

کلنټن چې د«فیمنست» او «ډموکرات» تر نامه لاندي هوډ لری په ډیر زوګ سره سپینی ماڼۍ ته ورننوځي، عملاً به څرګند شی چې دښځو او ډموکراسی ډیره بده دښمنه ده د بنسټپالي او سخت دریزی ډیر کرغیړن رژیمونه به نور هم ځواکمن او د نړۍ په نورو سیمو کې به د جګړې او جنایت اور به نور هم بل شی. هغه به دنده ولری چې په امریکا کې د واکمن سیستم جنګ‌بلونکي او شراچونکي سیاست ته ادامه ورکړی او نړۍ به له نن ورځی څخه بدتره د ځناورتوب او ویجاړی کندی ته وغورځوي.



اوباما: «امریکا نشي کولای طالبان له منځه یوسي!»

کارتونیست: یاسر احمد

پښتو ۱مه ګڼه، تله ۱۳۹۵ - اکتوبر ۲۰۱۶



لیکونکی: توفان

# کله چې د کرزي ژغورونکی د هغه د امریکایي ساتونکو له خوا ووژل شو



شاید په یاد به مو وي چې په ۲۰۰۲ کال کې پر کرزي د کندهار سفر په لړ کې د طالبانو لخوا برید وشو. ویل شوي چې برید کونکې دهغې د امریکایي ساتونکو له خوا ووژل شو.

دغه یوازې د قضیه یو اړخ دی چې ډېری لویدیځو رسنیو هغه جوته کړه. خو هغه ورځ څه پیښ شول؟ آیا یوازې یو ترهګر له منځه ولاړ، نه، د کرزي ځناور ساتونکو هغه کس په سره سینه په ډزو وویشت چې په میړانه یې ویشتونکې په څمکه راګوزار کړ.

دغه دردونکې پیښه چې د یو بهرني خبریال له خوا هم په ناڅاپي ډول فلمبرداري شوې ده بیاځلي ګورو:

د ۲۰۰۲ کال د سپتامبر ۵مه: کرزی قندهار ته د احمد ولي کرزي د واده په مراسمو کې ګډون ته تللی دی، د موټرونو کاروان یې د ګل‌آغا شیرزوي د هغه ولایت والي له ماڼۍ څخه بهر راوځي. یو شمیر لارویان د موټرو تر شا منډې وهي او کوښښ کوي له کرزي سره خبرې وکړي. یو له هغوې څخه د حامد کرزي د موټر ښیښې خوا ته ودریږي او له کرزي سره په روغبړ باندې

بوختيږی، څو تنه نور هم خپل ځانونه هغه ته رسوی. څو ثانيې وروسته د ډزو آواز اوريدل کيږی. دغه ډزې څو ګامه لری د ګل‌آغا شيرزوی د ساتونکو څخه يو تن له خوا تر سره کيږی چې د ملی اردو جامې يی پر تن او د کرزی د وژلو هوډ يی درلود. دوه په لارويان چې د کرزی ګاډی خواته ودريدلې وو، د بريدکونکې مخې ته وردانګې تر څو دهغه مخه ډب کړي، بريالی کيږی هم، هغه په ځمکه غورځوی. خو ناڅاپه د کرزی امريکايی ساتونکو څخه يو تن د پنټاګون ځانګړی ځواکونو پوری تړلی له شاته ګاډی څخه بنکته کيږی پر ټولو ډزې کوی چې په پايله کې بريدکونکې د هغو هيوادوالو سره چې د کرزي د ژغورلو په هڅه وو ټول ووژل شو او د کرزي او د ځارګرو موټر د هغوی د جنازو له پاسه تير شول. دغې وژنې نه د کرزی وجدان ته خوځاوه او نه هم د هغې شاوخواو چې د دغې صحنې شاهدان وو.

يوازی (PBS: Frontline World) سايت ددغې پيښې د راپور په څنډه کې ليکلی:

> «راپور مو تر لاسه کړ چې په کندهار کې ولسمشر حامد کرزی د خپل ورور د واده محفل د ګډون په ترخ کې د يو ترهګريز بريد څخه ځان روغ ژغورلی دی. يو ځوان سړي د وسله‌وال سړی پر سر ورودنګل او د ولسمشر ځان يی وژغوره، خو د ځانګړی امريکايی ځواکونو له خوا ووژل شو.»



د کرزی امريکايی ساتونکې څخه يو تن د پيښې څخه وخت وروسته.هغه د پنټاګون (DEVGRU SEAL Team 6) واحد پوری تړلی وو چې د خليلزاد غوښتنی پر بنسټ يوازی د کرزی د ۲۴ ساعته ساتنی لپاره په افغانستان کې ګومارل شوی وو.

د بی.بی.سی نوم‌لرونکې خبريال، ليزدوسيت هغه ورځ قندهار ته د کرزي سفر د صحنې په ثبتولو بوخت وو. خو د هغه په راپور کې له دغه جنايت څخه پرده پورته شوی نه ده ځکه چې د انګليس درواغوخپرونکی بنسټ دنده درلوده چې امريکا او ملاتړي يی د آزادی‌ورکونی او د افغانستان خلکو ته د نيکمرغی راوړلو په قالب کې تبليغ

کړی او د دغه خبر خپریدل د دغه سیاست سره انډول نه وو.

دغـه ډول بـې دردہ وژنی کلونه کیږی چې د ناټو او امریکایی ځواکونو له خوا په ټول افغانستان کې تر سره کیږی. آن تردی داسی موقعې هم منځ ته راغللی چې امریکایي ځواکونو د څو طالبو د سـنګر له منځه وړلو لپاره، ټول کلي یی د اوسـیدونکو سـره په کنډواله بدل کړی. نه دا چې تیروتنه ترسـره شوی او یا په هغه پرمختللو تجهیزاتو په سمه توګه نښه ونه شی نیولی، بلکه فکـر کـوی د افغانسـتان خلک د لوبو د وسـایلو په ډول د هغوی د وسـلو د آزمایښـت لپاره جوړ شـوی دی. په قصدي توګه د بی‌ګناه خلکو وژنه دومره ډیره شـوی او ددي لامل شـوی چی د دغو ځواکونو څخه یو شمیر د جګړې څخه راګرځیدو وروسـته، روانی سـتونزې پیدا کوی، خپسـه وینی او په پای کی ځانونه وژني.

آیا د کرزي په یاد دي چې ولی نن ورځ ژوندی دی؟ آیا په یاد لری هغه چا چې دده ځان ژغورلی دی د امریکایی ساتونکو له خوا یی ویشتل شوی؟ دغه امریکایی غلام که چیرې لږ وجدان هم درلودی باید له دغې پیښې سم‌لاسی وروسـته د امریکا چوپړتیا یی ننګ بللی وی او د امریکا د غلامۍ ځنځیر یی له غاړې لری کړی وای!



**د جنایتکارانو بخښنه** | کارتونیست: Elihu Duayer



ليکونکی: ذکريا

# د ګجګین جګړه، د روسي یرغلګرو پر وړاندې د استاذ حبیب‌الله او د هغه د ملګرو په زړورتیا سره ودریدنه



د ۱۳۶۳ کال د تلې لسمه، د فراه ولایت د ګجګین په کلي کې د روسی یرغلګرو په وړاندی د استاذ حبیب‌الله خان ګجګینی په مشرتابه د افغانانو په زړورتیا سره ودریدنی څخه کیسه لری. هغه ننګیالي چې په میړانې او زړورتیا سره وجنګیدل، ژوند یی د لاسه ورکړ خو د دین او جهاد سوداګرو په واکمنې کې ورک نومې پاتې دي.

استاذ حبیب‌الله خان ګجګینې په ۱۳۲۵ کال کې فراه ولایت د ګجګین په کلي کی نړی ته سترګې پرانستلي. په ۱۳۴۱ کال کې، د هلمند په زراعت لیسه کې داخل شو او وروسته د ټولګې د لومړي زده‌کونکې په توګه په ۱۳۴۴ کال کې د کابل پوهنتون زراعت پوهنځې کې داخل شو. خو د استاذ د کورنۍ ناوړه مالې وضعیت، هغه یې دي ته اړ کړ چې وروسته له یو کال څخه پوهنتون پریږدی او د «ابونصر فراهی لیسې» د ښوونکې په ډول یی دنده پیل کړه. استاذ حبیب‌الله تر یو مودی د ښوونکې په عنوان او وروسته تر ۱۳۵۶ کال پوری د فراه زراعت لیسې د تدریسې مرستیال په توګه فعالیت وکړ. د روسی چوپړګرو په کودتاه سره، د شینډنډ کوهک ابتدایه لری پروت ښوونځې ته تبدیل شو. د استاذ حبیب‌الله ستر آزادی‌غوښتنکې روح د روسی نیواکګرو او د هغوی کرغیړنو چوپړانو شتون ونشو زغملي، پر دي بنسټ یی

د هغـوي پر ضد د وسـلوالی مبارزې په لـور ګام پورته کړ او په ډېرو هلو ځلو سره یی مبارزو او پر هیوادمین روڼاندی سره یوځای کړل، او د ۱۳۶۱ کال په ورسـتیو کې د سـورخاش یووالی یي طرح کړ او د ځو نورو جبهو سـره یی دغه تړون د ۱۳۶۲ کال په غویی میاشـت کې عملی کړ. استاذ حبیب‌الله یی د جبهه د مرسـتیال او مالي مسـول په توګه وګوماره. هغه ددغه یووالی نورو مبارزانـو په مرسـته، ځواکمنه عملیاتی او ګرځنـده ډله چمتو کړه چې د فراه سیند شاته سیمه د «سورخاش ګرځنده ډلی عمومی جبهې» په نوم مشهور شوه.


استاذ حبیب‌الله خان ګجګینی

په ۱۳۶۳ کال کې، شـوروی دولـت پـه ډېره غوسـه لـوړه کـړی وه چې د افغانسـتان جګـړه بـه یو اړخیزه کـوی. کلي بمباران او د هیـواد پـه هـره څنډه کـې د هغو خلکو په وړاندي جګړې چې نه یی غوبنتل د روسانو او د هغوی د چوپړو تـر واکمنـې لانـدي ژونـد وکړی خونـړۍ او نابرابری، چټکتیـا غوره کړه. روسـانو فـراه ته یـو ۱۰ زریـزه فرقه وګومارله تر څو د دغه ولایت قومـی او ولسـی جبهـه لـه منځه یوسی. د «سورخاش قومی جبهه»، دغه د ودریدني نه تسـلیم‌یدونکی سنګر چې خلکو په منځ کې ځانګړی مینه موندلې وه، په دغه ولایت کې د روسانو له موخو څخه یوه وه. دغه جبهه د اسـتاذ حبیب‌الله خان ګجګینی او مخ‌کښو ملګرو او روڼاندو له لوری رهبری کیدله چې موخه یی د روسـي نیواکګرو، هیوادپلوری خلقی – پرچمی او اخوانی جنایت‌کاره باندونو له ګګړتوب څخه د هغه ولایت پاکول او د خپلواکی لاس ته راوړل او د خلکو ته د یو انسانی ژوند برابرول وو.

اسـتاذ حبیب‌الله خان چې د ګجګین کلي له مشرانو څخه شمیرل کیده،

د دغه سیمې د خلکو په منځه کې د ځانګړې احترام څخه برښمند وو، او تل له هغه ځخه د جګړو او قومي مسایلو د حلولو او فیصله کولو لپاره بلنه کیده، هغه د یوې ستونزې حلولو لپاره د خپلو څو تنو ملګرو سره کلې ته ځي. شپه یې هلته تیر کړه او سهار ته چې کله یې غوښتل له کلې څخه د غره له لاري جبهې ته ولاړ شي، خبر ترلاس کوي چې کلې د روسی عسکرو او چوپړانو له لوری چې په سپکو او درندو وسلو سمبال دی د ټانک او آلوتکو په وسیله ملګرتیا ورسره کیږی، محاصره شوی دی. د ګاونډی کلو مجاهدین او ۴۰ نور مبارزان د سورخاش جبهه‌ی څخه د استاذ حبیب‌الله مرستی ته را راځي.

میراحمد، یو له هغه کسانو څخه دي چې د استاذ حبیب‌الله تر مشرتابه لاندی په دغه جګړه کې ونډه درلودله. د هغې جګړې په اړه داسی وایی:

«مجاهدینو له استاذ حبیب‌الله خان څخه وپوښتل چې د روسانو او چوپړانو شمیر یی ډیر دي څه کار باید وکړو؟ استاذ په ځواب کې وویل: "په هیڅ ډول نه تسلمیږو او جنګیږو. که چیری موږ جګړه و نکړو هغوي موږ ژوندی نه پریږدی." مجاهدینو هم استاذ خپل قومندان وټاکه او د ګجګین له کلي څخه پورته کلې ته چې د اوبو لښتی یی درلود او د جګړې لپاره چمتو وو، ولاړلو. پورته کلې خلک د قران سره د استاذ او مجاهدینو خواته راغلل چې په جګړه کې یی کلې ویجاړیږی په دغه اساس کلې پریږدی. استاذ هم د هغوی غوښتنی ته غوږ ونیو او د ۱۵۰ مجاهدو سره د ګجګین کلې ته راوګرځیدل او په یو جګړه کې چې هغې لپاره مو هیڅ چمتوالي نه درلود، ونښتلو.»

ډیره سخته جګړه پیلیږي. روسان د ټانګ او آلوتکو سره، د ګجګین کلې د ځناوریز برید لاندي نیسی او څو ګړیو په موده کې د اوسیدونکو ډیر شمیر یی ووژل او هره خوا په کنډواله باندي بدلون مومی. د یوی مودی لپاره د مجاهدینو له خوا څخه ډزې نه کیږی او روسان ګومان کوی چې ټول وژل شوی دي او ودریدنه یی له منځه وړی ده، په داسی حال کې چې ډیری یی ټپیان او خپل نیم‌ځان یی د ماتو او خویدلو دیوالونو شاته پټ کړی وو. استاذ حبیب‌الله خان خپلو جنګیالیو ته امر ورکوی چې د دښمنانو تر نیږدې کیدلو ډزې ونکړي. روسان په دی ګومان چې بریالی شوی مخ پر وړاندی ځې چې په دغه وخت کې ډزې بیاځلې پیل کیږی. دا ځلې د روسانو ډیر شمیر وژل کیږی او د روسی عسکرو ۱۶ میله کلکوف د مجاهدینو لاس ته

ولیږي. روسان په شاتګ کوي او له لرې څخه په درندو وسلو خپل برید ته ادامه ورکوي.

په دغه ورځ کې د روسي قواو له لوري څخه دوه بریده ترسره کیږي، خو د استاذ حبیب‌الله تر مشرتابه لاندې په اتل‌ولۍ سره ودریدنې سره مخ شو او دواړه بریدونه پرشا تمبول کیږي. د عیني شاهدانو په وینا، استاذ حبیب‌الله سره له دې چې یو لاس یې ټپ اخیستی وو خو نه یې غوښتل چې د هغه ټپي کیدلو ته د نورو پام شي او د هغوی د روحې د کمزورۍ کیدلو لامل شي په دغه لامل په هماغه حال په زړورتیا سره جګړې ته ادامه ورکوي تر دې چې د ټانګ مرمۍ یې پر سر ولږیده او د خپل نه هیریدونکې ودریدنې سره شهید کیږي.

د استاذ حبیب‌الله په شهادت سره، د فراه خلک خپل اصیل او نجیبه بچي په له لاسه ورکولو سره په ماتم کیناستل.

میر احمد زیاتوی:

> «ګجګین جګړه، یوه تاریخي او تل‌پاتې او قهرمانانه جګړه وه. د جګړې په پیل کې، هغه وخت چې روسانو هوایي او ځمکنې بریدونه پیل شو، ټولو فکر کاو چې هیڅوک به ژوندي پاتې نه شي، ځکه چې ۱۰ زره تنه چمتو عسکر او په ډیرو پرمختللي ټانګونو او الوتکو سمبال د ۱۵۰ مجاهد په وړاندې د یو ـ یو میل کلاشینکوف او ۱۰۰ مردکیو سره، هیڅ د پرتلې وړ نه دي. خو د استاذ حبیب‌الله مشرتابه او د هغې د مبارزانو زړورتیا کیسې ته یې بدلون ورکړ.»

په دغه جګړه کې د ۱۵۰ تنه مجاهدینو څخه، ۴۵ تنه یې وژل کیږي او نور په نیمه شپه کې د لښتیو له منځ څخه خپل ځانونه له صحنې څخه بهر اوباسئ. خو په مقابل کې، یې ۱۵۰ تنه روسي عسکر وژل کیږي. د هغې پر سهار، روسي ټانګونه او پوځیان په ویرې او لړزې سره کلي ته راغلل او ګوري چې څوک ژوندي ندي او په ښارکې اعلان کوي چې د مجاهدینو مشر وژل شوی دی. خلقیان چې د روسانو زنځیري چوپړان او د افغانستان د خلکو قسم خوړونکې دښمنان دي، له خوشالۍ څخه جشن نیسي.

د ۴۵ شهید مجاهدو څخه، ۲۲ تنه د «سورخاش جبهې» څخه وو چې د هغې ټولګې څخه کولای شو د استاذ حبیب‌الله، محمد نادر صوفیزاده، اختر محمد شاه، محمدالدین شاه، محمد شریف، مامور میرحمزه، حبیب‌الله، بازمحمد، عبدالستار، مستری محمدالدین، ګل خان، فضل‌احمد، بریدمن

محمد ناصر صوفیزاده او محمد اسلام رنجبر نوم واخلو. دوی ټول سپیڅلي او پر هیواد مین مبارزان وو چې نه د ډالر او مقام او غنیمت لپاره، بلکه د هیواد او خلکو خپلواکۍ او حیثیت لپاره وجنګیدل او خپله پاک وینه یې قرباني کړه، خو په خواشینۍ سره د هغوی سربښندنو ګټه نن ورځ د یو موټی خاینانو او وژونکو له لوری معامله شوه او له منځه ولاړه.

استاذ حبیب‌الله خان ګجګینی او د هغه شهید ډګریالان له موږ سره نشته خو د ګجګین او ټولی فراه خلک اوس هم د هغوی له زړوتیا څخه په ویاړ یادونه کوی، د هغوي یادونه په سیمیزو سرودونو کې په درناوی سره یادوي.




د فراه د سورخاش د عمومي جبهه د مبارزانو پوستر



لیکونکی: زلمی

# په یوګوسلاویا کې د امریکا او ناټو جنایتونه



یوګوسلاویا، د اروپا په سویل‌ختیځ کې یو هیواد دی چې د لویدیځو قدرتونو د دسیسو په لامل جنګ ته ولاړه په پیله کې په ۲۰۰۸ کال کې په اوو هیوادونو (بوسنیا-هرزه‌ګونیا، کروشیا، مقدونیه، کوسوو، مومتینیګرو، صبرستان وسلووینیا) وویشل شو. دغه هیواد د لومړی نړیوالی جګړې (۱۹۸۱) څخه وروسته شاهی حکومت سره رامنځ ته شو او په ۱۹۲۹ کال کې د یوګوسلاویا په نوم ونومول شو چې د دوهمی نړیوالی جګړې تر ورستیو د هغې اصلی اوسیدونکی څو ځلې د نیواکګرو هیوادونو له خوا ووژل شول او قومی کړکیچونو ته بی‌ساری توګه لمنه ووهل شوه. په دویمه نړیواله جګړه کې، یوګوسلاویا د محور ځواکونو (آلمان، ایتالیا او هنګری) پراخه بریدونو لاندی ونیولی شوه او د هغې کروشیای ایالت د یو لاسپوڅې دولت په درلودلو سره د نازیانو تر ولکې لاندی راغی او د ۱۹۴۶ جګړې څخه وروسته د مارشال تیتو له خوا بیا ځلې د یوګوسلاویا فدرال سوسیالیستی جمهوریت په نوم یوځای شو. او قومی اختلافونه یی له منځه یوړل او یو متحد هیواد یی د «وروری او وحدت» سره جوړ کړ چې په هغې کې ټول قومونه د مساوی حقوقو او امتیازاتو څخه برښمند وو.

یوګوسلاویا د تیتو د غښتلی ارادې لاندی په یو سوکاله هیواد باندی بدل

شو چې په هغې کې روغتيايي او تعليمي چوپړتياوې ټولو ته وړيا وې بيکاري صفر ته راښکته شوه او ښاريانو ته يې فوق‌العاده ترانسپورتي چوپړتياوې وړاندې کړلې. يوګوسلاويا د صنعت او زراعت په برخه کې هم د پام وړ پرمختګ وکړ. د منځنۍ عمر کچه ۷۲ کالو ته ورسيده او ناخالصه کورني توليد په کال کې ۷ سلنه پرمختګ درلود.

په دغه هيواد کې د سوسياليستي سيستم واکمنيدل د دې لامل شو چې لويديځو هيوادونو هغه ګواښمن وګڼي، آلمان، فرانسه، انګلستان او امريکا د يوګوسلاويا د ټوټه کولو او له منځه وړلو لپاره لاس په کار شول. امريکا چې



په ويتنام کې د بې‌عزته کيدلو څخه وروسته خپل ځان يې خوار او ذليله ګڼلې وو پريکړه يې وکړه چې د يوې مودې لپاره د يو هيواد نيولو لپاره د مستقيم تيرې څخه لاس په سر شي او د ترهګرو او اورپکو ډلو څخه په خپل ملاتړ سره او د نړيوال بانک او پيسو نړيوال صندق له لارې د هيوادونو په بازارونو کې په لاس وهنې سره ټيکاو له منځه يوسي. په همدغه لامل يې چارې چمتو کړلې چې يوګوسلاويا له دغه دوو لوټګرو بنسټونو څخه پور واخلې.

يوګوسلاويا چې د ساړه جنګ په لړ کې «غير متعهد» هيوادنو له ټولګې څخه وه نو پر دې بنسټ يې کولای شو چې د نړيوال بانک څخه پور واخلي چې تر ۱۹۸۱ کال پورې دغه هيواد د نړيوال بانک څخه ۲۰ ميلياردە ډالره پور تر لاس کړی وو. د پيسو نړيوال صندق او نړيوال بانک دغه هيواد يې د دې ته اړ باسته تر څو «نيوليبرالي» سياست پلې کړي او عامه چوپړتياوې لږې کړي او ماليه پورته کړي. سبسايدی له منځه يوسي، پر اعتصاب او پاڅونونو محدوديت وضع کړي. ملي ناخالص توليد چې په کال کې ۷ سلنه پرمختګ درلود په ۱۹۹۰ کال کې منفی ۱۰ په سلو کې راوپرځيده. ۶۰۰۰۰۰ کارکونکې له کار څخه وويستل شو او سلګونو زرو نور پرته له تنخوا څخه کار کاوه. اوتورممخ په ډيريدو وو او حقيقي مزد ۴۱ سلنه راښکته شو. په همدغه وخت کې نړيوال بانک او د پيسو نړيوال صندق د يوګوسلاويا د مرکزي بانک کنټرول يې په لاس کې واخيسته او ډير محدوديتونه يې وضع کړل چې د

خلکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړ.

په همدغه وخت کې چې المان د ناټو غړی وو د سلوونیا او کرواسی په ایالاتونو کې یې د بیلتون‌غوښتونکو ځخه ملاتړ وکړ چې دغه ملاتړ کې نظامی زدکړې او هغوی ته د وسلو ورکولو شامل وو. په ۱۹۹۱ کال کې دواړو هیوادونو خپله خپلواکې اعلانه کړه او په چټکۍ سره د آلمان له خوا په رسمیت وپیژندل شو.

ناټو د امریکا تر رهبرۍ لاندی په صبرستان کې د اسلوبوادن میلوسویچ واکمنې ته د رسیدلو چاری برابری کړلی او تمه یې درلودله چې هغه د بهرنې هیوادونو پانګوالۍ پر مخ ډیر بازارونه خلاص کړی خو تر ۱۹۹۹ کال پوری نږدی ۷۵ سلنه لوی صنایع د دولت په لاس کې پاتې شوی او نیم میلیونو ځخه ډیرو کارګرانو د ای‌ام‌ایف سیاستونو په وړاندی لاس په پاڅون پوری کړ نه یې غوښتل د یوګوسلاویا ټول سوسیالستی قوانین له منځه ولاړ شی. لویدیځو رسنیو پراخه تبلیغات په لاره واچول چې میلوسویچ د پراختیاغوښتونکې دی او د «لوی صبرستان» رامنځته کول تکل لری.

په ۱۹۹۲ کال کې ملګرو ملتونو پر یوګوسلاویاډیر بندیزونه ولګول او هغه هیواد چې ژورو بحرانونو کې لاس او ښپې وهلی په بشپړه توګه ګوښه کړ. سرانه عاید ۷۰۰ ډالرو ته راښکته شو، وزګارتوب ۶۰ سلنې ته اوچت لاړ او انفلاسیون بی‌ساری شمیرې ته ۳۶۳ کوادریلیون (۳۶۳,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰,۰۰۰) سلنې ورسیدی.

په یوګوسلاویا کې د امریکا او ناټو جنایتونه

ناټو د روسیه او چین د مخالفت سربیره د «بشردوستۍ» تر نامه لاندی په ۱۹۹۹ کال د صربستان پر وړاندی خپل دو نیمه میاشتنی بمبار په کوسوو کې پیل کوی. دغه برید چې په شفر سره «د ائتلاف ځواکونو عملیات» یادیږی، د ناټو په تاریخ کې تر ټولو لوی برید وو او د ملګرو ملتونو له اجازې ځخه پرته په لاره واچول شو. په داسی حال چې یوګوسلاویا یو خپلواکه هیواد وو او د ائتلاف هیڅ یو غړی لپاره ګواښ نه شمیرل کیده.

ناټو ۷۸ ورځو په لړکې ۲۳۰۰ توغندي او ۱۴۰۰۰ وړیز بمبونه او د یورانیم لرونکی بمبونه یې په دغه هیواد غورځولې دی چې د هغې په پایله کې ۲۰۰۰ تنو خپل ژوند د لاسه ورکړی او زرګونه نور انسانان ټپیان او شل او شوټ شول. همدارنګه د زرګونو کورنو او سلګونو ښوونځیو او روغتنونو او تاریخی ځاینو د ورانیدلو لامل شو او د دغو بریدونو ډیر ناوړه اغیزې تر اوسه د اقلیم

او زراعـت او د خلکـو روغتیا پر مخ لیدل کیـږي. د دغه مودې ټول تاوان د یوګوسـلاویا دولت د سـل میلیارده ډالرو په شاوخوا کې اټکل کړی دی، هغه څه چې د امریکا دولت جانبي عوارض نومولي او دهغې لامل یې هم تخنیکي ستونزې اعلان کړې.

هغه راپور چې د ۲۰۰۰ کال د جون په میاشت د بشر حقونو څار خپور کړ لیکلې یې دي:

«تاریخ بـنـودلې ده هغـه کلـه چې ناټـو خپلو موخو تـه نه ده رسـیدلې څو ځلې پـه ځناوریزو بریدونو لکه د یوګوسـلایا په بمبار لاس پـور ی کړی دی. هر هغه څـه چې د ناټو نیت وو بیا یې هم د جنګـي قوانیـو څخه جـدي تیروتنه کړې چـې د بیګناه خلکو د عامووژنې لامل شوی.»

جیمز بیسـیت چې د ختیځې اروپا په څو هیوادونو کې د کاناډا سـفیر وو د ۲۰۰۴ کال د مـی پـه ۲۰ نیټـه د البرتا په پوهنتون کې د یوی وینا په لړ کې وویل:

«امریکا او ناټو ادعا کړې چې د ۱۰۰۰۰۰ څخه ډیر آلبانیایي د صربیانو په وسـیله وژل شـوي دي، خو د څیړونکو پلټنو او څیړنو ۲۰۰۰ څخه ډیر مړي نه دي موندلي چې د هغوی ډیر شمیر خپله صربیـان وو او د هغـې څخه مهمه دا چـې د ناټو هوایي بریدونو د جګړې ټول ضایعات په مرتبو د کورنیو جګړو څخه ډیر وو.»

د ۲۰۱۶ کال د اګسـټ په وروسـتیو کې د امریکا د ولسمشـر مرسـتیال جوبایدن صبرسـتان ته په یو سـفر کې د سـلګونو تنو غوسـه پارونکې لاریون لامـل شـو او لاریون کونکـو وویل چې موږ هیر کړې نـه دي چې د جو بایدن ددغې خاورې د بمبارولو د اصلي طراحانو او پلویانو څخه وو.

بده نه ده چې وپوهیږو جوبایدن هغه څوک وو چې په څو مرکو کې دهغې ډلې څخه «لاري کنګ» په پروګرام کې، سـی‌ان‌ان ته په ۱۹۹۳ وویل چې د صربسـتان خلک ناپوهه، فاسد، ماشـومانو وژونکې، قصابان او تیري کونکي دي او وویل صربیان باید د نازي حزب د کمپونو په شان کمپونو کې بندي او وروزل شـي. او همدارنګه پر یوګوسـلاویا باندې د روسیې او جاپان په ډول د یرغل او برید غوښتونکي شو.

د «آر.تـي» ټلویزیون په ۲۰۱۴ کال کـې چې پنځلس کاله د ناټو د جنګي جنایتونو څخه تیر شوي وو، د «زاشتو؟» (ولې؟) په نوم مستند خپور کړ.

په دغه مستند کې هغه کس چې د ناټو بریدونو عینې شاهد وو او ښځه یې هم پـه هغه موده کې امیدواره وه او بالاخره ماشـوم یې د جنګ په لړۍ کې وزیږیده، وایي: «یو ورځ مې ځوی وویل هو بمبارونه او چاودنې... مې په یاد دي موږ وویل دغه شونې نه ده ته یوګړی مخکې نړۍ ته راغللې او هغه وویل نه ځنې وختونه تل په خوب کې غړونه او د بمبونو صحنې او چاودنې ګورم.

د ناټو بریدونو څخه یو پر پل باندې هغه وخت ترسره شو چې یو اورګاډی له هغه ځایه تیریده. د مسافرانو څخه یو تن وایي: «خپـل همکار مې ولیده چې روغ بهـر راووت ډیـر ویریدلې وو همدغـه وو چې یو بـل راکټ ولګید او هغه یـې ټوټې ټوټې کړ. دغه شـې تر اوسه پورې را ته حل شوی نه دی چې ولې؟ ولې؟ که چیرې لومړی توغندی تیروتنه وه وروسـته دوهـم او دریم او څلورم څه شي؟»



یـو بل سـړي چې خپل ۱۴ کلن ځـوي یې د ناټـو بریدونو پـه ترڅ کې د لاسـه وکړی وایـي: « پوهیږۍ چې NATO یعنی څـه؟ یعنی د امریکا نوی ترهګریـز سـازمان (New American Terrorist Organization).»

هغـه پـه ادامه کې وایي: «وګورۍ د هغه وخـت خبرونو کې شومره توپیر وو، تل یې لیکل چې زموږ ورځني په عملیاتو کې د میلوسـویچ سـل په شاوخواو کې عسکر له منځه ځي او په دغه ځاي کې می د خپل ځوې د جنازې انځور دي چـې لیکلـې یـې دی د دغو عسـاکرو څخه د یو تن د جنازې د ښـخولو مراسم .»

امریکا چې په هغه وخت کې د ویتنام تل پاتې خپسـه یې هم خپلو سترګو پـر مـخ درلودلـه او د کمونیزم څخـه یې قـوې او زور ګوزارونـه خوړلې وو، غوښـتل یې چې د هغې وروسـتې پاتې‌شـونې هم په اروپا کې له منځه یوسي او د یوګوسـلاویا بیا یوځاي‌کیدل هیڅکله شونې نشي. سربیره پردې په دغو سـیمو یې د آلمان له واک څخه هم ویره درلودله چې ګواکې د هغې شـمالې سـیمو ته په لاره موندولو سره اقتصادي پرمختګ وکړي. په همدغه موخه د خپلو ورسـتیو امکاناتو څخه ګټه واخیسـتله او هغه هیواد یې ټوټې ټوټې او بدمرغه کړ.

پښتو ۱مه ګڼه، تله ۱۳۹۵ - اکتوبر ۲۰۱۶



لیکونکی: واحد منصوري

# پر قندوز د امریکا هوایي برید په ترڅ کې د ولسي وګړو ټولوژنه



۱۳۹۵ کال د لړم په ۱۳مه د شپې لس بجي امریکایی ځواکونو د قندوز ښار په کوزه قندهاری سیمه کې د ۳۰ څخه ډیر ولسي وګړی د خپل بمبار په ترڅ کې ووژل.

د قندز سلګونو تنو اوسیدونکو دغه ځناوریز جنایت وغنده، په داسی حال کې چې د ځینو قربانیانو مړی یی له خپل ځان سر لیږدول د ښار په مرکز کې لاس په لاریون پوری کړ او د امریکایی نیواګرو او د هغوي دننیو چوپړانو په وړاندی شعارونه ورکړل. هغوی د دغه ځناورتوب عاملانو ته د سزا ورکولو او د افغانستان څخه د نیواګرو ځواکونو د وتلو غوښتونکې شو.

عینی شاهدان وایی د ناټو چورلکې د شپې ۱۰ بجو څخه تر سهاره د هغوی پر کورنو بمبار وکړ چې په پایله کې یی د ۱۵ ماشومانو او څلور ښځو په ګډون ۳۰ ولسي وګړي ووژل شول. د قربانیانو په منځ کې د شیدو څکونکو ماشومانو څخه نیولی تر پنځ کلن او لس کلن هلکان او انجونې او نوی ځوانان او ځوان تر سترګو کیږی.

قندز په څو وروستیو کلونو کې له یوی خوا څخه د طالبانو او د افغانستان امنیتی ځواکونو د جګړی په اور کې سوځې او د بلې خوا څو ځلې د امریکایی پوځیانو او د هغوی ملاتړو پټو سترګو بریدونو او بمبار لاندی نیول شوی چې د هغې اصلی قربانیان عام او مظلومه خلک وو.













لیکونکی: نجیب الله نجیب

# سیلۍ غفار او مدني فعالان




د «مینــه» مجلې له مدیر مسـئول ښـاغلی عـزت اللـه ځـواب او نحیـب اللـه نجیب اللـه څخه په مننــې چې په ډیرو ښـکلو ټکـو یی د سـیلې غفار، د همبســتگۍ گوند ویاندې سیاســي کړنو په اړه لیکی دي. د یادونی وړ ده چې ښـاغلی ځواب څه موده وړاندی د کرغیړن اسـلامی گوند غړو په وسیله تبنتول شوی او ربړول شوی وو، خو له خلاصون وروسـته یی بیا هم لا په پیاوړتیا سـره د مبارزې په لاره کی گوټلي گامونه پورته کړ او له ویرې پرته یی خپلې لارې ته دوام ورکړ. باید ددی خاوری له نجیبو انسـانانو څخه د انسانیت درس زدکړو. لاندی د هغه لیکنه د همبستگۍ گوند لوستونکو ته خپرو.

## لیکونکی: نجیب‌الله نجیب

منبع: د «مینه» مجلې، اوپایمه گڼه، اکتوبر ۲۰۱۶

سـیلۍ غفار هغه ریښـتنې مبارزه ده چې په خپل ټول روز یی د مافیایی، جهـادی ټیکدارانــو او قاتلینــو پر وړاندی خبــره کړی ده. نن یو شـمیر هغه کسان چې ځان ته مدنی فعالان او روڼاندی وایی نوموړې ته سپکی او بدی ردی ویلی دي، چا ورته فاحشــه ویلی، چا د ایران مزدوره بللی، چا ورته...و

الله شرم پکار دی...

خبره داده چې سیلۍ غفار نه دا چې د ګلبدین او د هغه د باند د جنایتونو خلاف اواز پورته کړی دی بلکې نوموړې مېرمن په همدی کابل کی د مسعود، ربانی، فهیم، عبدالله او قانوني...پر خلاف هم لاریونونه کړي دي حال دا چې دا کار هیڅوک هم نشي کولای او نه به یی وکړي.

د امان الله خان رح او امانی دورې تر ټولو ستره ستایونکی ده، د حبیب الله خان کلکاني د بیا ښخېدو پر وړاندی یی کلکه مبارزه وکړه داسی مبارزه چې هیڅوک به یی ونه کړي.

دا څه شمشتو نه دی چې خلک به ګلبدین ته سجدې کوي له دی هیڅوک سترګې نشي پټولی چې ګلبدین په پاکستان او افغانستان کی د روڼاندي قشر قاتل دی او زرګونه روڼاندي او دیموکراسۍ ته ګروهمن او په هیواد مین انسانان یی وژلي دي.

د یو چا اواز مه چوپ کوئ.

وګورئ! قریب الرحمن سعید چې په ناروې کی سوکاله ژوند لری یو څه انساني ژوند یی زده کړی دی بخښنه یی وغوښته، خو د حزب نورو غړیو دا اخلاقی جرات بیرته رد کړ... حزبیان او نور جهادي مافیایي باندونه دومره اخلاقي جرات نه لری چې بخښنه وغواړي.

سیلۍ غفار د سولې مخالفه نه دی بلکی هغه ښکاره وایی چې دا جنایي باندونه بیرته سره رایوځای کیږي او بیا به ملت په سرو سترګو ژاړي دا اټکل ریښتیا دی. سوله زمونږ اړتیا ده او باید وشی خو داسې نه چې بیا وژنو ته مخه شي.

هیله ده چې د حق ویلو ژبه له دوی زده کړو. مدني فعالان باید د سیلۍ غفار او نورو هغه کسانو چې دا زړورتیا لری چې ددغسې وژونکو ډلو پر وړاندې مبارزه کوي ملا وروتړي.

ګورئ! ګلبدین او ډله یی او نورې ډلې ان له لومړیو څخه په مرموزو وژونو روږدې دي. سوله باید راشي خو د ګلبدین، مسعود، ربانې، سیاف او امثالهم لپاره انتقالی عدالت هم باید له پامه ونه غورځوو. مونږ باید کوښښ وکړو چې ددوی د منګولو څخه انسانیت وژغورو.




لیکونکی: پویا

# د فلیپین خلک د امریکا د پوځي هېو د رانغړلو غوښتونکې دي




د ۲۰۱۶ کال اکتوبر میاشت: فلیپینیانو د سترو لاریونونو په لړ کې د دغه هیواد څخه د امریکایي ځواکونو د ویستلو او د امریکا د لاس وهنو څخه لرې د خپلواکه بهرنی سیاست درلودلو غوښتونکې شول. هغوی د امریکا جنډې ته اور واچوه او له دغه هیواد سره یې د هر ډول هوکړې د منځه وړلو غوښتونکې شول. ډیرې ګډونکونکې محصلان، زیارکښان او د خلکو مختلفی ډلی وی.

لاریون کونکو چې د امریکا سفارت ته مخامخ د دغه هیواد په پایتخت کې غونده کړې وو د پولیسو د ځناوریز چلند سره مخامخ شول، تر هغه ځایه چې د پولیسو ګاډی خلک د ټایرونو لاندی کړل اود ۵۰ تنو په شاوخوا کې یې ټپیان کړل. په دغه اړوند، ریناتو ریس د لاریون له مشرانو څخه «اسوشیتید پرس» ته وویل:

«د پولیسو تاوتریخوالې په هیڅ پلمه د منلو وړ ندی. آن ولسمشر خپلواکه بهرنې سیاست یی څرګند کړی، خو د فلیپین د پولیس ځواکونه تر اوسه د امریکا د کوخه ډبو سپو ونډه لوبوی.»

پولیسو ۲۳ تنه د سفارت په لور د رنګ د غورځولو په تور نیولي دي او د لاریون کونکو پر شا تمبولو لپاره یې د اوښکې بهونکې غازو او اوبو شیندلو ګاډو څخه ګټه اخیستې ده. د فلیپین بشر حقوقو سازمان (KARAPA-TAN)، ویلي چې پولیسو د امریکا د سفارت چارواکو په امر عمل کړی دي.

ویل کیږي چې دغه لاریونونه د رودریګو دوترت، ددغه هیواد ولسمشر د وروستیو څرګندونو څخه په ملاتړ تر سره شوي دي. هغه چین ته د خپل سفر لړ کې د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۲۰ نیټه اعلان وکړ چې فلیپین به له پوځي او اقتصادي اړخه د امریکا څخه بیل شي او زیاته یې کړه چې نور د امریکا واک په فلیپین کې نه غواړي او امریکا سره دخداې پاماني وخت رارسیدلی دی. او د دې ترڅنګ رودریګو د امریکا او فلیپین ترمنځ د دفاعي او پوځي مرستو (EDCA) لس کلن تړون هم رد کړ:

«تاسو دفاعي تړون "EDCA" لری، که چیرې زه د ډیرې مودې لپاره دلته پاتې شم، بښه ده چې هیر یې کړئ. نه غواړو چې پرته له فلیپینیانو د نورو هیوادونو آن یو پوځي کس وګورو. دغه یوازې هغه څه دي چې غوښتونکې یې یم.»

د امریکا په وړاندې د رودریګو دغه لومړنې خبرې نه دي، هغه څه موده مخکې اوباما یې «ارموني» وباله. د امریکا او لویدیځ سیاستونو په وړاندې د هغه بریدونه څو ځله رسنیز شوي دي. رودریګو د ۲۰۱۶ کال په جون کې د خپلو خبرو په یو برخه کې د امریکا د ترهګري‌روزنې سیاستونو په اړوند ویلې وو:

«دغه منځنی ختیځ نه ده چې ترهګري امریکا ته لیږدوي، بلکه امریکا ده چې ترهګري منځي ختیځ ته رالیږدوي. امریکا منځنۍ اسیا له منځه یوړله، په یاد به مو وي چې څه ډول امریکا د بریتانیا په مرسته په ۱۹۹۰ کلونو کې عراق یې ونیو.»

فلیپین د هغه هیوادونو څخه دي چې څو لسیزه راهیسې د امریکایي ځواکونو شتون هغه یې د بدمرغۍ په لوری رابنکلی دی. امریکا په دغه هیواد کې او په سیاستونو کې یې داسې اوچت لاس لري چې د نړۍ په سیاسي کړیو کې د هغه څخه د «امریکا تش دالان» په توګه نوم وړل کیږي. امریکا له دغو هڅو څخه نه یوازې په بهرنیو عملیاتونو کې ګټه پورته کړې چې د دغه هیواد دولتونه سره یې د خپلو مخالفینو په ټکولو کې، او په ځانګړې توګه د هوکیاهاپ چپ پارتیزانانو په ټکولو کې مرسته کړې ده. که څه هم امریکا په

۱۹۹۱ کال کې د خپلو ځواکونو ستره برخه یې له هغه هیواد څخه بهر کړه، خو د یوولسم د سپتامبر پېښې څخه وروسته د امریکا د حد څخه ډېر تمرکز پر آسیا، په ۲۰۰۶ کال کې یو ځل بیا یې هغه هیواد ته ډېر ځواکونه ولیږدول چې خپلو هډو ته ټینګښت وروبخښي. هماغه ډول چې امریکا او لویدیځ په افغانستان کی بنسټپاله ترهګرروزونکې ځواکونه یې تجهیز او سمبال کړل، په فلیپین کې یی هم جنایتکونکې ډله د «ابوسیاف» په نوم منځته راوړه چې نوم یی د افغان وژونکې، رسول سیاف څخه اخیستی او په وژنو او جنایاتونو کې د افغان بنسټپالو څخه لړ لاس نلری.

خو د یو څه مودی راهیسی د هغه هیواد پرمختللی او عدالت غوښتونکې ځواکونو د خپلی خاوری څخه یی د امریکا ناتارکونکو ځواکونو د ویستلو لپاره پراخه مبارزات په لاره اچولی دی ځکه چې دوی په عمل کې موندلی تر هغه وخته چې خپلواکې لاس ته را نه وړی، نشی کولای خپل هیواد د بدمرغۍ او لوږې او فساد او جنایتونو څخه خلاص کړي.









لیکونکی: نوید نابدل

# د امریکا د پنځو تنو ژوندیو ولسمشرانو خونړۍ کارنامې




په تیرو سلو کلونو کې د امریکا هیچ ولسمشر نه وو چې لږ تر لږه یې په یو یا څو هیوادونو کې په لاسوهني او نظامي تیري لاس نه وی پورې کړی او ددې تر څنګه یې وژنې او ویرونکی جنایاتونو نه وی ترسره کړی. پورتني انځور، پخواني پنځه ولسمشران د هغو هیوادنو لیست سره چې خپلې ولسمشرۍ په لړ کې یې د بمبار، لاسوهني او وینوبهولو لاندې نیولي وه ښکاره کوي. اوباما چې په ښایسته شعارونو سره واک ترلاسه کړ او په خندنۍ توګه د نوبل د سولې جایزې ګټونکې شو، د په عمل کې د نورو څخه یې ډیره نړۍ په خاورو او وینو ولړله.

د امریکا ټاکنیزو مبارزو په ورستیو شیبو کې، نور ځانګړې شوي چې د دونالد ټرامپ او میرمن هیلری کلنټن تر منځه یو تن به سپینې ماڼۍ ته لاره ومومي. په بیلابیلو څرګندونو کې یو شمیر د ټرامپ بریالي کیدل او یو شمیر هم د میرمن کلنټن بریالې کیدل د نړۍ په ګټه بولي. خو زما لپاره دغه دواړه په اصل کې هیڅ ډول توپیر نه لري.

لږ تر لږه د بارک اوباما دوران چې د امریکا د لومړني تورپوټکې ولسمشر

په ډول چې د تور پوټکو په اوچتي لیوالتیا او د خوښۍ په اوښکو سره سپینې ماڼۍ ته ننوت ډیر درسونه له ځانه سره لري. ډیرو په ناآګاهانه ډول خیال کاوه چې د هغه په بریالتوب سره، لږ تر لږ د امریکا تور پوټکې به د تبعیض د لـه منځه وړلـو په لاره کې اړینو بدلونونو شـاهدان وي خو برعکس هغه د خپل ماموریت په پاي کې، د هیواد په مختلفو ښارونو کې د تورپوټکو د سترو پاڅونونو او غوسـه‌ناکو لاریونونو سـره مخ دي چې د هغوی په باور د اوباما د اوه کالنـې واکمنې په لړکې د تور پوټکو سـره تبعیـض او ناوړه چلند لوړوالی موندلـی دی او هغـه د هغـوي ټولې هیلې پـه اوبو لاهو کـړې. اوباما چې په بی‌سـاری ملاتړ اداري چاري په لاس کی واخیسـتی، د خپل ګرانښت ګراف یی ورځ تر بلي ورځ داسـی راټیټ شـو چې تمه کیږي «د امریکا د تاریخ ډیر بدنومي ولسمشر» لقب چې جورج بوش یي په واک کې لري خپل کړي او له سپینې ماڼۍ سره به خداي پاماني وکړي.

اوس چې د «تورپوټکې توب» کارت، له دوکو څخه ډک او خپل پوچوالې یي د خلکو لپاره په ډاګه کړی، شـک نشـته چې د هغه هیواد په تاریخ کې د لومړنۍ ښځینه واکمنی په ټاکلو، کوښښ وکړي چې د امریکا ولس او نړیوال د بل ځل لپاره وغولوي او د بدلون په تمه کښینوي.

هـر هوښـیارکـس پوهیږي چې پـه امریکا کې یـو نیواکګـر، جګړه‌مار او جنایتکاره سیسـتم واکمـن چې د هغې اصلي لوبغاړي سـترپانګوالان دي او ولسمشـر یواځي دنده لري چې په ټوله دسـتګاه او خپل لوي جنګې ماشـین په واسـطه د هغوي د ګټو څخه سـاتنه وکړئ. د امریکا یو سـلنه پوري تړلي سترشـرکتونه د مالـی او رسـنیز ملاتړ لاس ته راوړلو پرتـه، هیڅ څوک دغې څوکۍ ته د رسیدلو خوب هم نه شي لیدلی! دغه ولسمشر که څه کلنټن وي یـا ټرامـپ، که څه هم په وینا کې یي توپیر وی، په فکر او عمل کی کوم مهم توپیر له یو بل سره نه لری.

ډیر تازه لاسـوندونه چې د «ویکی‌لیکس» له لوری څخه خپاره شـول دا څرګنـدوی چـې د دموکـرات ګوند ملي کمیټـې لوړ پـوړی چارواکو د حزب په دننیو سـیالیو کې د پردي ترشـا، کوښـښ وکړ چې برنی‌سـندرز له ټاکنو لری او د هیلاری کلنټن لپاره د بریالیتوب زمینه برابرکړی. د سـندرز توپیر لرونکې خبری د ټاکنیزو مبارزاتو په لړکې او دا چې خپل ځان یي «دمکرات سوسیالیسـت» نوما وه په یواځیتوب سـره یي نشـو کولای چـې د امریکا د یوسلنه غوښتنو سره ورته والې ولری له همدې کبله له نظره وغورځول شو.

د امریکا تاریخ د هغه ګواه دي چې د دغه او هغه بهرنی هیواد په وړاندي د جګړې، تاوتریخوالې، تیری، د ښکاره او پټې توطئه په لاره اچول د دغه هیواد د ولسمشرانو د عمده کړنلارو په توګه ثبت ده ځکه چې د نورو هیوادونو په نیولو سره دوی د لویو لوټ لپاره لاره هواره وی او سیستم په حرکت کې ساتي.

اوس باید یواځې په تمه اوسو چې کلنټن یا ټرامپ، نور کوم غریب هیوادونه به په کنډوالو بدل کړي.

**د ایران او عربستان زورواکي رژیمونه د مذهبي تاوتریخوالی عاملونه!**




کارتونیست:
Pavel Constantin



لیکونکی: نوید نابدل

# رُزا پارکس، میړانه ښځه چې د تور پوټکو د عدالت‌غوښتنې یوه بېلګه شوه




د امریکا د تور پوټکو د مبارزاتو په تاریخ کې، د دسامبر لومړی ارزښتناکه ورځ شمیرل کیږی. په ۱۹۵۵ کال کې یو ښځه د رُزا پارکس (Rosa Parks) په نوم په همدغه ورځ یو حرکت سره چې ظاهر کې ساده وو د ودریدنې او مبارزی تخم وکاره چې د مارتین لوتر کینګ تر مشرۍ لاندی د تورپوټکو د مدنی حقوقو غورځنګ پیلونکې شو او ډیری توکمپالنې قوانینو ته یی د پای ټکې کیښود.

د ۱۹۵۵ کال د دسامبر په لومړی ورځ د امریکا آلاباما‌ی ایالت په مونټګمری ښارکې، رُزا د خپل کار ځخه سترې راګرځیدله او ښاری بس ته ختله. د هغه وخت د قوانینو پر بنسټ، د سپین پوټکو او تور پوټکو څوکۍ ګانې بیلی وی. تور پوټکي اړ وو چی د ښاري بسونو په وروستۍ برخه کی کښیني.، رزا په لومړی قطارکې د تورپوټکو په برخه کی کښینې، څو تمځایه وروسته یو سپین پوټکې سړی راخیژی خو ځرنګه چې د سپین پوټکو ټولې کرسې ګانې ډکې وي، ډریور د تورپوټکو ځخه غوښتنه کوي چې لومړی قطار د هغه سړی لپاره پریږدی. دوتنه چې د رزا به خوا کې ناست وو، له ځایه ځخه پاځیږی،

خو هغه د دغه انساني ضد دستور په وړاندې ودریدنه کوي د ډریور په وار وار غوښتنې هم خپل ځای نه پریږدي. د هغې دغه کړنه پولیسو ته راپور ورکول کیږي چې هماغه ورځ نیول کیږي او جریمه کیږي.



۲۸۵۷ شمیره ښاریې بس چې د رزا ودریدنه لـه هغه ځای څخه پیل کیږي نن ورځ د هنري فورد په موزیم کې ساتل کیږي.

خـو د هغـې میړانـه حرکـت په چټکې سره رسنیو ته لاره پیدا کوي او ویـده وجدانونه را ویښوي او په پایله کې پـه امریکا کې لاریونونه ډیریږي. تورپوټکـې د یـو کال مـودې لپاره د ښـاریې بسونو د بندیز غورځنګ په لاره اچـوي چې په پایله کې، محاکمه د ښوکیـو د بیلولو قانون غیرقانوني اعلانوي.

دغه د تورپوټکو د مبارزاتو لومړنی لاس ته راوړنه وه چې وروسته د مارتین لوتر کینګ تر مشرۍ لاندې په پراخه او لوی غورځنګ باندې بدلون وموندو. د تورپوټکـو ودریدنـې په پایله کـې، په ۱۹۶۴ کال کې د مدنـي حقونو قانون تصویب او هر ډول توکمپالنې تبعیض په امریکا کې ممنوع اعلان شو.

د دغـه غورځنـګ د بریا څخه مخکـې، د امریکا په ډیـرو ایالاتونو کې، د رنګینپوټکـو په وړاندې سـخت او ظالمانه قوانین پلـی وو. تورپوټکو په جلا ښوونځیو کې درس لوسته، هغه پارکونه چې یواځې سپین پوټوکو ته ځانګړي وو هغـوی په کې د تګ راتګ حق نه درلود، د سـپینپوټکو رسـتورانتونو ته یـې د ننوتلـو حق نه درلود، تر دې چې په ډیرې ځایونو کې د تورپوټکو پوړۍ او د اوبو نلونه جلا وو.

رُزا چې د تورپوټکو لپاره د عدالتغوښتنې پیلونکې ښځه شوې وو، نړیوال شهرت یې وموندو او د توکمپالنې ضد مبارزې بیلګه شوه. په وروستیو کلونو کـې د امریـکا د کنګرې له خوا ورتـه رسـما « د آزادې غورځنګ مور» لقب

ورکړل شو او ډېری ډالۍ یی لاس ته راوړی. هغې چې په ۲۰۰۵ کال سترګې له نړۍ څخه پټې کړې، د امریکا په تاریخ کې لومړی تورپوټکې ښځه وه چې د واشنګټن د کپیټل په ماڼۍ کې ښخه شوه.

که څه هم امریکا په خپل تاریخ کې تورپوټکې ولسمشر درلود، خو د رنګین‌پوټکو په وړاندې ناتاري او بې‌عدالتۍ لا تر اوسه په خپل ځای ده چې د تیرو کلونو په لړ کې موږ د امریکا په مختلفو ښارونو کې د هغوې د غوسه‌ناکو پاڅونونو شاهدان وو.



۱۹۵۰: د امریکا په شمالي کارولینا ایالت کې د تورپوټکو او سپین پوټکو د لاس‌وینځلو جلا ځایونه.


په ۲۰۱۳ کال کې، د رُزا پارکس مجسمه د واشنګټن د کپیټل هال د مجسمو په تالار کې ولګول شوه.


په شپیتمه او اویایمه میلادی لسیزه کې د امریکا د تورپوټکو عدالت‌غوښتنې مبارزه د «تورو پړانګانو ګوند» د وسله‌والو حرکتونو سره یو نوې پوړ ته ورننوته چې واکمن سیستم یی سرګردان او معینو شاتګونو ته اړیست.

پښتو ۸مه ګڼه، تله ۱۳۹۵ - اکتوبر ۲۰۱۶




لیکونکی: اسد

# «حزب‌التحریر» د پروان پوهنتون د ناپوهي او سخت دریزي په لور راکاږي




په دې ورځو کې د افغانستان په تحصیلی مرکزونو کې د دینی سخت‌دریزی خبرې‌اترې پراخه رسانې ازانګه موندلې ده. د افغانستان په ۱۶۰ زره په شاوخوا جوماتونو او دینی مدرسو کې، په چټکې سره داعشی او ارتجاعی افکار تبلیغ شوی او د پوهنتونونو «ثقافت اسلامی مضمون» هم د بنسټپالانو په لاس لکه اخوانی، سلفی، وهابی، «ولایت فقیه» او نورو ډلو ټپلو په وسله بدل شوی دی چې له دغې لارې رسمی او پرته له سرخوږی شخه خپل په زهرو ککړ افکار چې په تیرو لسیزو کې د افغانستان د ویجاړی لامل وو، ترویج کوی.

زه د پروان پوهنتون ویرونکې وضعیت چې د کابل سره په ۶۱ کیلومتری کې پروت دی په لنډ ډول بیانوم. هغه ځاې چې په هغې کې ځوانان باید مخکښ او علمی افکار تر لاسه کړی، د نا پوهې‌روزلو او د ترهګرو ډلو د پټنځاینو په مرکز بدلون موندلې دی دولت نه یواځې د دغه ناوړه وضعیت مخه نه نیسې، چې عملا خپله چارواکې د سوپر مرتجع او وژونکو ډلو لپاره

د تبلیغ زمینه چمتو کوي.

د پروان په پوهنتون کې، یوه انسان وژونکې او مرتجع ډله د «حزب‌التحریر» په نوم چې په حقیقت کې د داعش تیوریک مټ دی، په خلاص لاس فعالیت لري ناپوهه ځوانان مسموم وي.

دغه لړۍ چې په ۱۹۳۵ کال کې د شیخ تقی‌الدین النبهانی فلسطینی په وسیله تأسیس شوه اوس مهال د شیخ عطاء بن خلیل تر رهبرۍ لاندې د داعش او القاعده همفکر ده.

دغه حزب سره له دې چې رسماً په عدلیه وزارت کې نه دی ثبت شوی، ولې دولت د هغې د زهرو شیندلو مخه نه نیسي. هغوي ټوله اسلامي نړۍ د «دارالکفر» په نوم نوموليې ده، د خلافت اسلامي ټینګښت غوښتونکې دی د ډموکراسۍ او هر ډول فردي آزادیو سره لیونۍ ضدیت لري. تحریریان افغانستان اصلا د یو هیواد په توګه په رسمیت نه پیژنې او په سایت او خپرونو کې یي، هغه د خپل خیالي خلافت «ولایه افغانستان» بللې.

هغوی که څه هم مډرنې نړۍ د معنوی ارزښتونو سره ډیر ضدیت لري، خو د خلکو غولولو لپاره تبلیغات او خپل د تیرې عصر د لید لوری په اصطلاح «ځوان خوښونکې» جوړولو په موخه، د نورو بنسټپالو ډلو برعکس د پټلون اغوستل، ږیره خرول، د موبایل او فیسبوک څخه ګټه پورته کول او حتا د ځینو هالیودی فلمونو نندارە (ګویا خپلې ځانګړی نتیجه‌ګیری او پایلی سره) اجازه ورکوي ځکه چې درک کړی یی ده چې ځوان نسل په همدغه لاره کولاې شو جذب کړو او خدمت کی ونیسو.

د پوهنتون یو شمیر ممتاز محصلان د حزب‌التحریر تبلیغاتو تر اغیز لاندې دی، ماغزه یی په داسې ډول وینځل شوی او اوختی دی چې عملا یی ښوونه او درس پریښودی او په تبلغیانو بدل شوی. طبعی علوم د هغوی له نظره «دنیایی مسایل» او بی ارزښته دی، که څه هم ددغه منځنې پیړی ګوند «د خلافت دولت تعلیمی او تحصیلی نظام اصول» کې د غولولو او دوکې لپاره، د علومو لاس ته راوړلو ته اجازه ورکړل شوی ده.

یوازینې مضمون چې ټول حزب‌تحریریان له هغې سره سخته لیوالتیا لري «ثقافت اسلامی» دی. د دغه ګوند ډیری غړی داوطلبانه حاضریری د دغه مضمون په ساعت کې د مختلفو مسایلو په اړه چمتوالې ونیسي او بحث وکړی. زده‌کونکې هم اړ دی د هغوي چټیاتو ته غوږ ونیسي او که چیری مخالف لیدلوری او پوښتنه وړاندې کړی په چټکې سره د «کفر» او «الحاد»

ټاپه خوری په همدغه لامل څوک د خبرو کولو جرئت نه لری.
هـر څوک چـې د «حزب‌التحریر» غړی وی، د خپلـو پلویانو له لید څخه خلیفه او د ټولو څخه هوښـیار ګڼل کیږی او نورو ته ناپوهان وای. د هغوې له لید څخه د جوماتونو ملایان چې د حزب غړی نه وی، ناپوهه او مسلمانان ندی. د دغه ډلې غړي، ټول شیان یی میخانیکې او وچ د خپلو مشرانو څخه او د هغوی د مرکزونو څخه خپاره شـویو لیکنو څخه، چې په عربی هیوادونو کې دی، زده کړی او طوطی په څیر یی نورو ته بیانوی تر څو د ځوانانو فکر د تیارې لور ته راکاږی. هغوی د هیواد روانو ستونزو ته کومه بنسټیزه حل لاره نه لری. د بیلګې په توګه دغه ډله د هیواد په شـاتلونکې اقتصادی سـتونزی د شـتمنانو څخه د ذکات په راټولو حل کړی ددی څخه بی خبره دی چې د ننی ټولو ستونزو او غریبی سرچینه د پانګوالې نظامونه دی.
تحریریـان دي تـه د لمړیتوب ورکولو پر ځاې چې زمـوږ هیواد د زرګونو ناروینو سره له لاس او ګریوان دي هغه مسایلو ته چې کوم ارزښت نه لری او جاهلانه دی نظر اچوی. د بیلګې په توګه تبلیغ کوی چې پروتین د نشایسته سره باید یوځای ونه خوړل شی یعنی که چیری کوم واده ته خبر یاستی چې په معمول توګه وریجی او غوښـه ده یوازی غوښه وخوری یا وریج! که چیری لوبیا او وچه ډوډی وي، یو یی وټاکې! هغوي دغه د خپلو مشرانو کرامات او ژورلیدنه بلې چې څه علمی ټکو ته پام لری!!
د «حزب‌التحریـر» مشـکوکې کړنې په پروان کې پـه پراخه کچه دي چې عبدالله هم هغه د «جمعیت اسـلامی» لپاره ګـواښ بللې او د ۱۳۹۴ کال د لینـدی په لومړیو کې د هغوی د نفوذ څخـه خبرداری ورکړ. هغه دغه ډله د ترهګرو ډلو غیری پوځې ځانګه وګڼله چې ځوانان ترهګریزو چارو ته هڅوی. خو تر اوسه د دغې کرغیړنې او تورفکری ډلې په وړاندي کوم اقدام نه دی تر سره شوی دی.
د «حزب‌التحریر» غړو په ناروغه فکر ښـځه انسـان نه شـمیرل کیږی او پـه ډیـره ټیټه سـترګه ورته ګوري. د هغـوی له لید څخه ښـځې چې له کور څخـه بهـر او د تعلیم او زده‌کړې په فکر کې شـي، په رټلو او هر ډول سـخت چلند باندی محکومې دی. په خواشـینې سـره دغه غیری انسانې لیدلوری د دغـه ډول د ښـځوضد ډلو د تبلیغاتو په لامل د پـروان په پوهنتون کې رواج موندلې، محصلی انجونې له سـتونزو سـره مخ دي درناوی ورته نه کیږی او سپکاوی یی کیږی.

که چیرې انجونې د پوهنتون په وخت کې حجاب ونلري او یا د مخ او ویښتانو یو څنډه یې ښکاره شي، د محصلانو له خوا زورول کیږي. د پوهنتون په منځ کې هلکان او انجونې د یو بل سره د خبرو کولو حق نه لري. «حزب‌التحریر» له لورې خپرو شوې د «خلافت دولت په پوځي تعلیمي او تحصیلي اصولو مبادي» د «انجونو او هلکانو زده‌کونکو پر خبر اترو بندیز» د یو اړین اصل په توګه ټینګار شوی دی. دغه وضعیت د دې لامل شوی دی چې انجونې په پوهنتونونو کې د سختو فشارونو لاندې ونیول شي او په ستونزو سره خپلې زده‌کړې پر مخ یوسی.

خو هغوي چې ښځه انسان نه شمیري، او په ځانګړې توګه د ثقافت اسلامي پوهنځي محصلان چې د خپلې یو لیشت ږیرې او څو متر شملې سره ځانونه د اسلام مخکښان ګڼي، کله چې سترګې یې په یوې انجلۍ ولږیږي، داسې ښکارې چې په عمر کې یې انجلۍ نه ده لیدلې، د هغوی لورته په اصطلاح په ځلورو سترګو ګورې، کله چې له هغوي ځخه وپوښتل شي چې د نامحرم ښځو لور ته کتل حرام دي، په ځواب کې وایي «موږ پر هغوی د خدای لعنت وایو!»

په څو وروستیو لسیزو کې زموږ د خلکو د لـه منځه‌تګ او بدمرغیو لاملونـو څخه یو په هیواد کې د بنسټپالو، خلکو ضد، جنایت‌کونکي او ملي ضد ګوندونـو پرمختګ دي چې د نیواګرو هیوادنو په ځانګړې توګه امریکا او انګلستان او د عربستان او پاکستان او ایران او نورو ارتجاعي دولتونو له لوري زموږ په بدمرغه خلکو باندې تپل شوي دي. ځکه چې نیواکګرو په تجربه کې موندلې ده چې د بنسټپالۍ ځناورې ډلې د پیسـو او چوپړتیاو په وړاندې هر ډول معاملې ته چمتو دي، هغوی یې د لاسپوځو په توګه تر وروستی حده د مالي، وسلوالې او معنوي ملاتړ لاندې نیولې دي. د بنسټپالو ګوندونو ډولو د امپریالیـزم او ارتجـاع د موخـو پلې کولو پرته، د ملـي او پرمختللې فکرونو وینې‌بهونکې دښمنان دي په همـدې لامل په ځانګړې توګـه امریکا هغوی خپل ډاډمن متحدان ګڼلې نه یوازې په افغانسـتان کې چې په ټوله اسـلامي نـړۍ کې یې خپله غیره کې راټول کړي او ویښـو او نیواک ضد وجدانونو ټکولـو لپـاره یې کاروي. د همدغه لیدلوري پر بنسټ امریـکا او لویدیځ، د کابل لاسـپوځي دولت د ملي ضد سیاسـتونو سـره په عمل کـې د هیواد په پوهنتونونو کې د سـخت‌دریزۍ ملاتړي دي او پر هیوادمینو او پوهو عناصرو د ګوت‌څنډنو په وړاندې بې تفاوت دي.



لیکونکی: مریم مروه

# میرزا فقیر احمد خان پنجشیري زموږ د تاریخ د ریښتینو مبارزانو څخه دی




میرزا فقیر احمد خان پنجشیری د شاه امان‌الله خان یو تن نږدې ملګرو څخه او د افغانستان نومیالی مشروطه‌غوښتونکو له ډولګې څخه وو چې د لسګونو نورو هیوادپالو روڼ‌اندو په څیر د جلاد نادرخان د ناتاری قرباني شو. او د عمر تر پایه خپل ولس او فکر ته ریښتیني او وفادارو شخصیتونو څخه وو چې تل پرته له ویری د خپلو انساني او پرمختللو عقاید لپاره جنګیده.

هغه خپل تحصیلات په هندوستان کې پای ته ورسول او په اماني عصر کې د ځنګلونو رییس او یو مودې لپاره هم په روسیه کې د افغانستان سفارت د سر لیکونکي په توګه په دنده وګمارل شو.

فقیر احمد خان یو موده په مسکو کې د افغانستان په سفارت کې دنده درلودله چې د هغه او هاشم خان ترمنځ (د نادرخان ورور په مسکو کې د افغانستان سفیر) مخالفت پیدا شو. تل‌پاتې میرغلام محمد غبار په خپل تل پاتې اثر کې «افغانستان د تاریخ په اوږدو کې»(دویم ټوک، ۶۷ پاڼه) کې په دغه اړوند لیکي:

«دغه کلالې او پوهه ځوان د میر سید قاسم خان د سیاسي کړۍ یو برخه وو. هغه وخت چې هغه په مسکو کې د افغانستان سفارت سر لیکونکي وو، د سفیر محمد هاشم تر سپکاوي لاندې ونیول شو او د تمانچې په ډز سره یې دغې بې عزتۍ ته ځواب ورکړ، خو په خواشیني سره یو تن افغانی کوریر چې د فقیر احمد خان او محمد هاشم خان تر منځ خپل ځان ځخه خنډ جوړوي، په دغه مردکې راپریوځي او سترګې له نړۍ څخه پټوي، په داسې حال کې چې محمد هاشم خان په چټکې سره تیښته کړې وه.»

فقیر احمد خان کله چې له مسکو څخه خپل هیواد ته راګرځي، د شاه امان الله خان له لوري د ځنګلونو د رییس په توګه وګمارل شو چې د مرګ تر وخته په دغه څوکۍ کې پاتې کیږي.

د نادر شاه په توره دوره کې چې وینه‌څښونکي هاشم خان لومړی وزیر وو، میرزا فقیر احمد خان د خپلو ملګرو او هفکرانو ټولګې سره ونیول شو او بندخونی ته ولیږدول شو.

څرنګه چې هاشم خان د فقیر احمد خان څخه په زړه کې ژوره کینه درلودله او سملاسي چې هغه لومړی وزیر شو او فقیر احمد خان په زندان کې وو له موقع څخه یې ګټه پورته کړه او پرته له هیڅ ډول محاکمې د هغه د اعدام حکم یې صادر کړ.

غبار د «افغانستان د تاریخ په اوږدو کې» دویم ټوک په ۶۷ پاڼه کې د دغه هیواد پاله او عزتمند ځوان د اعدام په اړوند لیکي:

«کومه ورځ چې نادرشاه د ولیخان او څو نورو کسانو د اعدام حکم یې صدارت ته ولیږداو، د فقیر احمد خان نوم د اعدامیانو په نوملړ کې نه وو، محمد هاشم خان همدا چې نوملړ یې ولوست او د فرمان د پلې کولو امر یې ورکړ، نوی نوملړ یې په خپله خوښه ترتیب او وویل: د یو تن نوم هیر شوی دي. په هغه وخت کې یې په خپل قلم د فقیر احمد خان نوم ولیکه او ولیږداوه.»

«د ارګ سیاسي زندانیانو کیسه کوله کله چې د ارګ د زندانیانو غبر پورته شو چې فقیراحمد خان دی راشي، فقیر احمد خان ودرید او د هغه جامې او شمله وپلټل شوې، په ملنډو موسکی شو او ووت او د وژونکو لو وژل‌کیدونکو سره یوځای شو. او په پایله کې دغه پنځه تنه پرله پسې په دار وځړول شو.»

او په دغه ډول دغه مبارز سړی د ۱۳۱۲ کال د وږي په ۲۴ نېټه (۱۶ سپتامبر ۱۹۳۳) د محمد ولی خان دروازی، جنرال غلام جیلانی چرخی، میرزا محمد مهدی خان قزلباش او جنرال شیر محمد خان چرخی سره یوځای وروسته له ډیرو ربړونو د کابل په دهمزنګ زندان کې اعدام او مړی یې خپل زوړ پلار ته وسپارل شو.




د نادری او هاشم خانی تور دوران، زموږ د هیواد ډیرو اصیلو ځامنو د عام‌وژنې وخت وو. وینه تویونکې نادر شعار وو چې «د افغانستان د میلیونونو وګړو په منځ کې، د څو سوه پوهو ځوانانو شتون کوم ارزښت نه لری» («افغانستان د تاریخ په اوږدو کې»، دویم ټوک، ۱۲۶ پاڼه) په همدغه لامل سلګونه خپلواکۍغوښتونکي او هیوادپاله روڼاندي لکه غلام نبی خان چرخی، خواجه هدایت الـلا خان، مولاداد هزاره، محمد عظیم منشی زاده، عبدالرحمن خان لودین، فیض محمد خان، سرور جویا، تاج محمد خان پغمانی، علی اکبر خان غندمشر او نور رندانیان، وربړول او اعدام شول.

خو نن ورځ په اصطلاح د شوونیست او کرغیړن‌فکرو «روڼاندو» څخه یو ډله لکه اسماعیل یون، حمیدالله فاروقی، انورالحق احدی او نور په بیشرمۍ سره کوښښ کوی کرغیړن نادرخان د تاریخ ډیران څخه راوباسی او د افغانستان «ژغورونکې» په توګه اتل وښایی. دوی په لومړی ګام کې د پورته ذکر شویو روڼاندو پاکې او سپیڅلې وینی د خپو لاندی کړی او تاریخي خیانت ترسره کوی. نادرخان چې د نیواکګرو انګلیسانو د توطئه په لړ کې

واک غصب کړی وه افغانستان یې د پوهه، هیوادپالو عناصرو او خلکو له شتون څخه پاک کړ، زموږ له تاریخي دښمنانو څخه دی، نو هر هغه څوک چې په هر نوم او پلمې تر لاندې کوښښ کوي له هغه څخه فرښته جوړه کړي، د حبیب الله کلکاني او دهغه د ناپوهۍ څخه ډکې لارې د پلویانو په څیر به تاریخ ته شرمیدلي پاتې شي.

افغانستان نه د نادري، هاشم خاني او حبیب الله کلکاني په زوږ بیرق، بلکه د فقیراحمد خان، جویا، عبدالخالقیانو، سیدکمال، لودینیانو، چرخیانو، دروازیانو، محمودیانو، او د دغې خاورې دزرګونو نورو نوم ورکو اتلانو پاکې لارې ته په ادامه ورکولو سره کولای شي عدالت، آزادي او ښیرازۍ ته ورسیږي.




**د امریکا ټاکنو پایله** | کارتونیست: Steve Bell




## د مرستندویه هیوادونو کنفرانس

کارتونیست: Hassan Bleibel




## د سولې ناسته

کارتونیست: Oleg Dergachov

# «د افغانستان د همبستګی ګوند» خپروني تاسو کولي شی په کابل او ولایاتونو کې له لاندي پتو څخه تر لاسته کړئ:

## کابل

**نمایندګی انجمن نویسندګان افغانستان**
جوار پارک تیمور شاهی

**شرکت کتاب شاه محمد**
چهارراهی صدارت

**کتاب فروشی مقدم**
مارکیت جوی شیر کابل

**کتابخانه وحدت**
نیاز بیک، دکان حاجی

**کتاب فروشی معلم محمد وحید**
د افغانستان آریانا مارکیت، دکان اول

**کتاب فروشی رفیع الله**
پل باغ عمومی، لب سرک، زیر پشتنی بانک

## هرات

**کتاب و قرطاسیه فروشی عبدالجبار "یعقوبی"**
جکان غوند یازده،
مقابل مکتب متوسطه خلیل الله خلیلی

## بلخ

**کتاب فروشی عبدالغفور عرفانی**
**کتاب فروشی عبدالرازق انصاری**
مزار شریف، چهارراهی بیهقی،
پوسته خانه شهری

**کتاب فروشی فیروز**
مقابل نشنل بانک پاکستان

## تخار

**فوتوکاپی آمو، نجیب الله رحیمی**
تالقان، بندر بدخشان، مقابل فوائد عامه،
دکان نمبر ۱۰

## کندز

**قرطاسیه فروشی محمد هارون**
جاده ولایت

## بامیان

**کتاب‌فروشی محمد ظاهر حیدری،**
جوار سبزی فروشی، شهر بامیان

## غزنی

**کتاب و قرطاسیه فروشی توحید**
شهرک البیرونی، جاده خاتم الانبیا

**کتاب و قرطاسیه فروشی احمدی**
پلان سوم، کوچه زیارت خواجه علی

**کتاب فروشی فرهنگ ۱**
جوار کتابخانه عامه

**کتاب فروشی فرهنگ ۲**
سرک تانک تیل کهنه، رسته نجارها

## ننګرهار

**کتابفروشی سیار**
ولسوالی خیوه

**مازیګر کتابپلورځی**
اسحاقزی مارکېټ، جلال‌آباد

## کنر

**کتابفروشی احمد ظاهر**
چغانسرای، سرک قومندانی

## فراه

**کتابفروشی عزیزی**
واقع ناحیه سوم،
مقابل لیسه نفیسه توفیق میر زایی

## بغلان

**کتاب و قرطاسیه فروشی فردوسی**
شهر پلخمری، مقابل غضنفر بانک

## بدخشان

**کتاب و قرطاسیه فروشی ضیایی**
فیض آباد، دشت شهدا، مقابل تربیه معلم

## نورستان

**عکاسخانه، فوتوکاپی و قرطاسیه فروشی میا**
روبروی مسجد انصاف مارکیت، پارون - نورستان

# دردیدلو هیوادوالو،

که د خپلواک، آزاد او دموکرات افغانستان غوښتونکی یاست؛ که د افغانستان د سرلوړۍ او بې‌وزلو خلکو د هوساینې هیله په زړه کې لرئ؛ که غواړئ د نیواکګرو او د هغوی چوپړانو د جنایتونو او خیانتونو پر وړاندې خپله دنده ترسره کړئ، نو د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» سره یوځای شی او د خپل ګوند خپرونې په پراخه توګه د خلکو په منځ کې خپرې کړئ.


پته: پست بکس شمیره ۲۴۰، مرکزی پسته‌خونه
کابل ـ افغانستان

ګرځنده: 0093-700-231590
بریښنالیک: info@hambastagi.org
ویب‌پاڼه: www.hambastagi.org
فیسبوک: facebook.com/Afghanistan.Solidarity.Party
facebook.com/hambastagi
تویتر: twitter.com/solidarity22
یوټیوب: youtube.com/AfghanSolidarity


د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» د خپلو کړنو مخکې وړلو لپاره د غړو حق‌العضویت او د پلویانو مرستو ته اړتیا لری. په خپلو نقدی مرستو له مونږ سره هم‌غږي شی:

Azizi Bank
Koti-e-Sangi Branch, Kabul, Afghanistan
Name: Sayed Mahmood
Account No: 001903204644917

THE Voice of Solidarity
(HAMBASTAGI GHAG)

8
PASHTO
OCTOBER, 2016

A Monthly Publication of the Solidarity Party of Afghanistan



# پر قندوز د امریکا هوایی برید په ترڅ کې د ولسي وګړو ټولوژنه

۳۴ مخ

قیمت: ۲۵ افغانی